# په تا څه شوي ناول دوهمه برخه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړني


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | په تا څه شوی؟ ناول |
| د کتاب بڼه: | ناول (منځوې کيسه) |
| ليکوال: | محمدنواب ودان «احمدزی» |
| د اړيکي شمېره: | ۰۷۰۷۴۳۵۷۴۵ |
| کمپوز او ډيزاين: | خپله ليکوال |
| اډيټ: | خپله ليکوال |


## ډالۍ:

هغو ته دي ډالۍ وي چې ماته دعاء وکړي.

## يادونه:

که چېرې مو د دې کتاب په اړه څه نظر او انتقاد لاره کولای شئ، د لاندې لينك چې ما پرې د دې ناول پوسټ کړی ده، کمېنټ له لارې يې راسره شريك کړئ.

https://www.facebook.com/۱۰۰۰۲۶۲۸۹۱۲۱۶۵۴/posts/pfbid۰ZFhxdiF۱jdzBsXUT۲thfbWBcR۹dX۴۱AKM۲FvYG۴AnaamYF۷qooreasbDv۶VM۱FSpl/?app=fbl

والسلام

محمدنواب ودان"احمدزی"

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې څنګه جان وییك د (په تا څه شوي؟ ناره وکړه)، تر هغه څو شېبې وروسته د کوم څه د لګېدو غږ پورته شو، لکه چا چې په دیوال کوم لرګی په ښه ځواك سره وهلی وي، تر هغه وروسته دا غږ بېخي ډېر شو او چې عبدالجبار ولید، ملکې لرګی را اخیستی او د جان ویك په سر یې واهه، په بېره یې ملکې ته وویل:

ته څه کوې؟

ملکې تر لږ ځند وروسته وویل:

دا رزیل مې مردار کړ، ای کاش چې مخکې په دې خبره پوهېدای، نو هغه وخت به مې مردار کړی وای.

عبدالجبار وویل:

ښه کار دې په دې ونه کړ، چې د اسیر وژل زمونږ په قانون کې نشته، نه پوهېږم چې ملا صاحب ته به څنګه د دې خبرې ځواب ورکوم.

ملکې چې عبدالجبار ته وکتل، نو ویې لیدل چې په سترګو کې یې غوصه او اندېښنه دواړه ښکاري، ځکه خو یې ویې ویل:

ته غم مکوه! زه خپله هغه ته قناعت ورکوم، چې دا کار ما وکړ، دومره هم بد کار نه وؤ، مګر دا چې تاسو د هغه له خولې د معلوماتو د وتلو تمه لرلې وي او که کومه سزا هم وي، نو باید ماته راکړل شي.

عبدالجبار په غوصې وویل:

لومړۍ خبره دا چې مونږ د چا معلوماتو ته اړتیا نه لرو او دوهم دا چې اسلامي امارت د ښځو په سزا رسول نه غواړي، مګر دا چې ګناه د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او که چېرې ګناه د مېړه او يا د کوم بل سړي د بې پروايۍ له امله شوې وي، نو بايد بې پروا ته سزا ورکړل شي.

ملکې په ټوکه وويل:

خو ښاغلی عبدالجبار عمري! زه مېړه نه لرم.

تر هغه وروسته چې د ملکې سترګې يې وروتړلې او په موټر کې يې کېنوله، نو بېرته يې په خندا او ټوکه ورته وويل:

ښه نو تا ويل چې مېړه نه لرې، رېښتيا دې وويل، حرمونې پلار هم نه لرې.

ملکې په حيرانتيا وويل:

حرمونې يعنې څه؟

عبدالجبار :

هغې خلك چې پلار يې نه وي معلوم.

ملکه پوهه شوه چې خبره له ټوکو واوښته، نو په ټوکه يې ويل:

نو ته څه پوه شوې چې زه حرمونې يم؟

عبدالجبار وويل:

نه نو په آمريکا کې هم د چا پلار معلوم وي؟

ملکې وويل:

نو ته څه فکر کوې، چې معلوم نه وي؟ په آمريکا کې ډېر کم داسې خلك دی چې پلار يې معلوم نه وي، نور ټول خلك معلوم دي، چې څوك د چا اولاد ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار وویل:

په مونږ کې یوه قاعده ده او هغه دا چې په پېژند پاڼې کې د ماشوم د پلار نوم لیکل کېږي، ځکه اصلي پلار یې معلوم وي، خو په آمریکا کې د مور نوم لیکل کېږي، ځکه یوازې اصلي مور یې معلومه وي.

ملکې په ناز وویل:

دا خبره خو سمه ده، خو کله کله د پلار نوم هم لیکل کېږي، په دې شرط چې پلار یې معلوم وي.

عبدالجبار وویل:

نو په دې کې د ناز خبره له کومه شوه؟ چې ته ناز کوې؟

ملکې یې په ځواب کې هېڅ هم ونه ویل او همداسې غلې کور ته ولاړل، هلته د دې لپاره چې سبا اختر وؤ، نو ټولو باندې د روژه ماتې ته پاتې څو دقیقې ډېرې اوږدې شوې، خو ملکه یوه شي ته خوښه وه او هغه د جان ویک وژل ول. ځکه خو لاړه او له صفیې او خدیجې سره لګیاه شوه، تر څو د روژه ماتي په چمتو کولو کې مرسته ورسره وکړي، کله چې آذان وشو، نو عبدالجبار، عبدالکریم او سلیم په یوه کوټه کې او ملکه، صفیه او خدیجه په بله کوټه کې ډوډۍ ته کښناستل، د ډوډۍ خوړلو پر مهال عبدالکریم له خپل زوی عبدالجبار څخه پوښتل:

صفیه ویل ته غواړې له دې انګرېزې سره نکاح وکې، رېښتیا ده؟

عبدالجبار سر ښکته واچاوه او په ږېره یې لاس تېر کړ، بیا یې له ډېره شرمه په بنده بنده ژبه وویل:

زړه مې کېږي، خو چاته ویلی نه شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار یې ورته وویل:

ګوره زویه! ته دا تمه مه لره چې آغه دې د مینې اظهار درته وکړي او یا دې د نکاح پیشنهاد درته وکړي، ځکه که له غربه هم راغې وي بیا هم یوه جیلکۍ ده او آغه هم دسې جیلکۍ ځې رفتار یې هېڅ د غربیانو په رقم نه ده او بیا خبر سوی یم ځې نوې مسلمانه سوې ده، نو اوس خو د ټولې مځکې به اندازه حیا پکې ده، خو زه به صفیې ته ووایم ځې دې نکاح په باره کې ورسره وغږېږي، ځکه پوهېږم په تا باندې به چا توره نه وي کړې.

له دې خبرې سره سلیم موسك شو، خو د عبدالجبار نظر یې موسکا بېرته ورکه کړه، بیا چې کله ډوډۍ وخوړل شوه او ټولو لمنځونه وکړل، صفیې چای راوړ او په راتلو یې عبدالجبار ته وویل:

لالا څه دې وکړل، د واده په باره کې دې سوچ وکړ؟

په دې وروستیو کې عبدالجبار په داسې خبرو او پوښتنو خوښېده، خو د دې لپاره چې خور یې صفیه دې خبرو ته دوام ورکړي، په هغې باندې به یې لږ څه غوصه کوله، صفیه هم په دې کیسه پوه وه، نو ځکه به یې داسې خبرې ډېرې اوږدولې، خو داځل عبدالجبار په ډېره سړه لهجه وویل:

که دې ډنګ او ډول ته زړه شوی وي، نو دا خبره دې له ذهن نه وباسه، ځکه که نکاح هم وکړو، یوازې ساده نکاح به وي او بس، چتې ځان ته جنجال نه ګورم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صفیه په دې خبرې ډېره خوښه شوه او له ډېرې خوښۍ نه یې دا هېر شول چې په پیالو کې چای واچوي، په داسې حال کې چې هره ورځ به یې دا کار کاوه، بس په منډه د ملکې خواته ورغله، هغه په سوچ کې تللې وه، خو دې بې له کومه ځنډه ترې وپوښتل:

څه کوې لالا سره د نکاح په باره کې فکر کوې؟

ملکې هم په بېړه وویل:

هو!

چې کله یې د صفیې پوښتنې او خپل ځواب ته پام شو، ډېره حیا ورغله آن اننگي یې له ډېرې حیا نه سره واوښتل، خو اوس خبره شوې وه، صفیې وویل:

نو کله نکاح ته آماده یې؟

ملکې وویل:

چې هر وخت وي، خو یوازېنۍ خبره او شرط دا ده چې زما نکاح به مولوي صاحب احسان الله احسان او یا ملا محمد عمر تړي.

د ملکې له دې خبرې سره صفیې په زوره زوره وخندل او په خندا کې یې وویل:

ته همدا شرط لرې، مولوي صاحب احسان الله احسان خو دا کار نه شي کولای، ځکه هغه څه موده مخکې خدای بخښلی شو، خو په دې نه پوهېږم چې ملا محمد عمر به دا کار وکړي او که نه.

ملکه حیرانه او داسې لږ غمجنه شوه او بیا یې په همدې حالت کې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورې! ته څه وایې، هغه کله خدای بخښلی شو؟

صفیې په لومړي ځل د یوې نجلۍ له خولې نه د خور کلمه چې دې ته کارول شوې وه واورېده، یو عجیب احساس ورکې پیدا شو او همداسې په خندا کې یې وویل:
خور دې له تا قربان شي، تر هغه وروسته چې تا د هغه خبرو ته غوږ نیولی وؤ، خدای بخښلی شو.

ملکه د مولوي صاحب احسان الله احسان د مرګ خبر په اورېدو ډېره خواشینې شوه، آن په سترګو کې یې اوښکې راغلې چې له دې سره صفیې په ټوکه وویل:
زه پوهه نه شوم، چې تا له مولوي صاحب احسان الله احسان سره مینه لرله او که له جبار لالا سره؟

ملکې ژر خپلې اوښکې پاکې کړې او ویې ویل:
صفیې! په هرڅه کې ټوکې هم ښې نه وي.

د ملکې له دې خبرې سره صفیه هم پوه شوه چې ټوکه یې په ملکې ښه ونه لګېده، ځکه خو یې وویل:
وبښې خورې! خو زما پام نه وؤ، زه خو دومره پرې خفه نه شوم چې ته پرې خفه یې، هسې دا خبرې پرېږده دا ووایه چې کله له لالا سره نکاح کوې، هغه به ډېر ژر کندهار ته ولاړ شي.

ملکه تر ډېره غلې وه، په دې اړه یې سوچونه کول چې آیا دا له عبدالجبار سره کندهار ته ولاړه شي او که نه او که چېرته وغواړي چې لاړه شي، نو آیا په دې کار توانېدلی شي او که نه چې عبدالجبار ته دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قناعت ورکړي، چې باید دا له ځان سره هلته بوځي، ځکه خو يې صفيې ته وويل:

زه هم غواړم چې له عبدالجبار سره کندهار ته لاړه شم او نکاح مې راته ملا محمد عمر مجاهد وتړي.

صفيې په حيرانتيا وپوښتل:

څه ته غواړې چې تر کندهاره پورې له يوه نامحرم سره لاړه سې؟

ملکې وويل:

خير که د تګ لپاره نکاح ته ضرورت وي، نو وبه يې کو، خو غواړم چې اصلي نکاح راته هغه وتړي.

صفيه په سوچ کې لاړه چې دا څه وايې او بله دا چې ورور به يې د دې دا خبره ومني او که نه، ملکې ښکلو شنو سترګو او سپين مخ ته يې وکتل او بيا د عبدالجبار خواته ورغله، دې غوښتل چې عبدالجبار ته د ملکې خبره وکړي، خو عبدالجبار ورته وويل:

خورې هغې ته وروايه چې ځان تيار کړي، ځکه ملا صاحب ټولې آمريکايي جينکۍ غوښتي بايد دا هم بوځم.

د عبدالجبار عمري په دې خبرې صفيه حيرانه شوه او په حيرانتيا يې وپوښتل:

وروره! خير ده مه يې بيايه! نه پوهېږو ملا صاحب به له هغې سره څه کوي؟

عبدالجبار چې د صفيې حيرانتيا او تشويش وليده نو په ټوکه يې ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه پرې کوي خو وژني يې.

له دې خبرې سره د صفيې په غټو تورو سترګو کې اوښکې ډنډ شولې، لا په ژړا نه وه خو ستونی يې ډک وؤ او همداسې په ډک ستوني يې وويل:
خو لالا! هغه له تاسره مينه لري او ته له هغې سره نو ته څنګه کولای شې، هغه تسليمه کړې؟

عبدالجبار هر څه زغملی شول، خو د خپلې خور ژړا يې نه شوه زغملی، ځکه خو مخکې تر دې چې په ژړا شي ده وويل:
نه خورې! ټوکه مې درسره کوله، ملا صاحب غواړي چې هغوئ ټولې آمريکا ته ولېږي، اوس ورشه او هغه تياره کړه.

*****

صفيې لومړی د عبدالجبار خبره ملکې ته وکړه او بيا يې له ملکې وغوښتل چې وتښتي او دا ژمنه يې هم ورسره وکړه چې دا به عبدالجبار بوخت کړي، چې دا په ډېرې آسانۍ سره وتښتي، خو ملکې ونه منله او پر ځای يې ځان چمتو کړ.

عبدالجبار خپل موټر سره ورته په تمه وؤ، لږ وروسته ملکه هم راووته، عبدالجبار موټر ته وخوت، چې څنګه ملکه هم په موټر کې کېناسته عبدالجبار د کندهار پر لوري حرکت وکړ، ملکې وپوښتل:
آيا ته پرېږدې چې هغوئ ما آمريکا ته ولېږي؟

عبدالجبار بې له دې چې دې ته وګوري وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له اميرالمؤمنين سره دليل نه وايم.

ملكې د سړك غاړې انسانانو ته وكتل چې ډېر چټك له سترګو تېرېدل، بيا يې وويل:

ښه نو دا خبره پرېږده، ووايه هغه د آيسكريم كيسه څنګه وه؟

عبدالجبار په حيرانتيا ملكې ته وكتل او بيا يې وپوښتل:

ته څه خبره شوې؟

ملكې ته دا خبره صفيې كړې وه، خو دا حيرانه وه، چې عبدالجبار ته څه ووايي خو ژر يې فكر كار وكړ، ځكه خو يې وويل:

جان ويك راته وويل.

د ملكې په دې خبره عبدالجبار په اندېښنه شو، ځكه هغ دا سوچ كاوه چې څوك به وي چې سي آى اې ته كار كوي، ځكه هلته خو بې له طالبانو بل څوك نه وؤ، خو بيا يې پام شو چې كېداى شي هغوئ چاته كيسه كړې وي او هغه كيسه سي آى اې ته رسېدلې وي، ځكه خو يې وويل:

څو ورځې مخكې تر دې چې ملاصاحب كابل ته راشي، خپل اووه كسه ګاردان يې كابل ته را لېږلي وؤ، هغه وخت د روژې مياشت وه، د روژه ماتي پر وخت به يو كس وركېده او چې د ماښام لمونځ به قضا كېدو ته نږدې شو نو بيا به پيدا شو، يوه ورځ مې پوښتنه ترې وكړه چې وهلكه ته چېرته وركېږې؟

دا چې هغه ډېر ټوكي وؤ، نو ويې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاره عبدالجباره! په چوك كې يو شی ده بل ماډل يې تار را تاو كي، سيد كريم ورته قسم په خدای په روزه ماتي كې سخت خوند كوي.

ملكې په زوره زوره وخندل او بيا يې همداسې په خندا كې وويل:
نو اصل كې يې ټوكه كړې، ما ويل چې رينښتيا ساده ده؟

عبدالجبار وويل:
ته رينښتيا له ما سره مينه لرې او رينښتيا مسلمانه شوې يې او كه دا هم كومه استخباراتي لوبه ده.

ملكې وويل:
ته زما په مينه هيڅ باور نه لرې، ما جان ويك ونه واژه؟

عبدالجبار په خندا وويل:
خو دا هم كېداى شي چې په دې كې هم كومه استخباراتي لوبه وي، ځكه كېداى شي، تا جان ويك د دې لپاره وژلی وي چې مونږ ته خبرې ونه كړي.

د عبدالجبار له دې خبرو سره د ملكې په شنو سترګو كې اوښكې ډنډ شوې او د زړه له سوز او درد نه يې وويل:
سمه ده پوهېږم چې ته په ما باندې باور نه شې كولی، خو زه بې ستا له مينې نه نور هيڅ دنده نه لرم، ځكه خو په تا پوره باور لرم، چې ته ماته هيڅ زيان نه شې رسولی.

ملكه غلې شوه او هغوا عبدالجبار هم خپل موټر چلاوه چې كله موټر د غزني ښار ته ورسېده، نو ملكه او عبدالجبار يوه رېستورانټ ته ننوتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کله ننوتل، ملکه له عبدالجبار نه جلا شوه او بیا دواړو ځان ته فرمایش ورکړ او په تمه شول، کله چې د هوټلي شاګرد ډوډۍ راوړه، نو عبدالجبار ته یې په ځیر ځیر وکتل او بیا یې وویل:

ملا صاحب! شزه له تاسره وه؟

عبدالجبار په رډو سترګو ورته وکتل او بیا یې وویل:

هو! ولې؟

د هوټلي شاګرد وویل:

هیڅ! د امر باالمعروف کسان هلته ناست دي، ما وې هغوئ یې پوښتنه ونه کړي.

عبدالجبار نه غوښتل چې بحث اوږد کړي، ځکه چې حوصله یې نه لرله، نو د هوټلي شاګرد ته یې وویل:

که دې هغې ته ډوډۍ نه یې ور وړي، نو ورشه او ډوډۍ وروړه چې بېره لرو.

د هوټلي شاګرد ډوډۍ وروړله او په ډېره سختۍ یې هغې ته کېښوده، ځکه چې داسې نه وي عبدالجبار یا د امر باالمعروف کسانو ته څه پلمه په لاس ورشي، دوډۍ وخوړل شوه او بیا دواړو تر لمانځه وروسته خپل مزل ته دوام ورکړ.

ملکې وپوښتل:

تاسو افغانان ولې دومره سر سخته یاست؟

عبدالجبار تر یوې لنډې چوپتیا او یوه لنډ سوچ وروسته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که دې مطلب له انګرېزانو او روسانو سره له جګړې نه وي، نو باید ووایم چې مونږ مخکې تر اسلامه هم لوی سکندر مات کړی ده.

ملکې وپوښتل:
د افغانانو واده تر مسلماني واده سخت نه ده؟

عبدالجبار وویل:
مونږ په افغانستان کې واده نه کوؤ، سم ظلم کوؤ، دا ولور شو، دا خوږه شوه، دا اختری شو، دا وچ خرڅ شو، دا سره شول او دا سپین.

ملکه بېخي حیرانه پاتې شوه، چې څنګه داخلك ځانته مسلمانان هم وایي او بیا داسې کارونه هم کوي، یعنې دا څنګه مسلمانان دي، چې د اسلامي قوانینو پروا نه لري، بیا یې په خپل هیواد کې اوسېدونکو عیسایانو ته فکر شو، چې ځان به یې عیسوي باله، خو د عیسویت پر خلاف کې به ولاړ وؤ او د بې دینو په شان به یې ژوند کاوه، نو ځان سره یې وویل:
څومره عجیب خلك دي، خدای دین ورکړی او دوئ د پلرونو په لارو روان دي.

عبدالجبار په هینداره کې ور وکتل او بیا یې وپوښتل:
څه دې ویل؟

ملکې عبدالجبار ته وکتل او بیا یې په ټیټ غږ وویل:
نه هېڅ مې نه ویل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا تر کندهار دواړه غلي ول او چې ښنګه هلته ورسېدل، نو یوه طالب ودرول او له عبدالجباره یې وپوښتل:

سلام علیکم چېرته ځې؟

عبدالجبار په موسکا ورته وویل:

ملا صاحب غوښتی یم، هلته ورځم.

هغه طالب عبدالجبار ته وکتل او بیا یې وویل:

سه یي ده درځئ لاړ سئ!

عبدالجبار هم حرکت وکړ، لا یې دومره واټن نه وؤ اخیستی، چې طالب بېرته غږ وکړ، ځکه خو بېرته ودرېده د شا لید په هېنداري ته یې وکتل، هغه طالب په ځای داسې ولاړ وؤ، لکه هېڅ چې د غږ نه وي پرې کړی، زړه یې وؤ چې بېرته حرکت وکړي، چې په دې کې یې عبدالله ولیده چې د موټر پر لوري را روان دی، نو ځکه خو یې هنډ بریک کش کړ او له موټر نه راښکته شو، له ښکته کېدو سره عبدالله په کندهاری لهجه پرې غږ کړ:

چېرته یې جبار مولاصیب؟

عبدالجبار په موسکا ورته وویل:

ما خو ملا صاحب ته وویل چې له عبدالله سره به ګرځم، خو هغه راته وویل، چې ته باید یو بل کار وکړې، ځکه خو یې کندهار ته هم نه را پرېښودم، نن یې راوغوښتم.

عبدالله په موسکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مولایانو خو همداسې کارونه دي، وګوره، زه هم ټول عمر په دې چیك پاینټ کې زوړ سوم.

د عبدالله په دې خبره عبدالجبار وخندل او په خندا یې وویل:
ولې مولانه یې ډم یې؟ زه که ووایم لا یوه خبره.

عبدالله هم وخندل او بیا یې وویل:
نه یارکه له موږ نه خو دوئ مولایان جوړ کړل.

عبدالجبار هم د عبدالله په خبره وخندل، چې په دې وخت عبدالله عبدالجبار ته را ورسېده او بیا یې یو بل کلك په غېږه کې ونیول. تر هغه وروسته یې په موټر باندې تکیه وکړه او کیسې یې پیل کړې.

تر ډېره یې کیسې سره وکړې، بیا عبدالجبار وویل:
یاره عبدالله جانه! زړه خو مې کېږي چې تر سهاره پورې کیسې درسره وکړم، خو ملا صاحب غوښتی یم.

عبدالله ورته وویل:
شه چې داسې ده بیا ورځه. مه ناوخته کوه.

عبدالجبار باید د استخباراتو مرکز ته ورغلی وؤ، ځکه خو د استخباراتو مرکز نږدې یې د ملکې سترګې پرې وترلې، ملکې هېڅ ونه ویل او نه یې هم کوم عکس العمل وښوده، ځکه عبدالجبار هم داسې توپاني ځان د استخباراتو مرکز ته ورساوه چې لږ پاتې وؤ د ملکې زړه بد بد شي او هر څه راوګرځوي، خو د استخباراتو د مرکز په دروازه کې یې موټر ودراوه، یو طالب راغی، یوازې یې عبدالجبار ته وکتل او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې عبدالجبار ته د دننه تلو اشاره وکړه. ځکه خو عبدالجبار هم دننه ولاړه. موټر يې له نورو موټرونو سره ودراوه او بيا يې ملکه ترې راښکته کړه او ورته ويې ويل:

لاس مې ونيسه چې ولاړ شو.

ملکې په خندا وويل:

ته زما لاس د دې لپاره نه نيسې چې ګنهکار نه شې، نو زه څنګه ستا لاس ونيسم؟ ولې زه مسلمانه نه يم؟ يا مې سترګې را خلاصې کړه، يا ملاصاحب راوله چې نکاح مې وتړي او يا ولچر راوله، کنه زه همدلته يم.

عبدالجبار له ډېرې غوسې نه ملکه هلته په پارکېنګ کې پرېښوده او دی دننه ولاړ، هلته هك پك او حيران پاتې شو، ځك ملا صاحب هم دننه وؤ او ملکه هم، عبدالجبار له سلام او روغبړ وروسته ملکې ته وويل:

ته څنګه دلته را ورسېدې؟

ملا صاحب يې په ځواب کې وويل:

عبدالجباره څوك داسې نه کوي، تا دا بېچاره نجلۍ له موټر سره په ترلو سترګو پرې ايښې وه، ظالمه زمونږ په دين او کلتور کې يې ښځې ته څومره عزت ورکړی، زه چې پرې راغلم سترګې مې ورپرانيستې او بيا راغلو، ته له سرتېري سره په خبرو باندې اخته وې، ځکه دې ونه ليدو.

عبدالجبار په موسکا وويل:

ښه مشره دا هاغه نجلۍ ده چې تا غوښتې، ما فکر وکړ چې داسې نه وي، زمونږ استخباراتو ته هم کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا صاحب ملکې ته وویل:

لورې خبر شوی یم چې مسلمانه شوې یې، خو ستا ټولې ملګرې آمریکا ته لاړې، بس ته پاتې یې، څه کول غواړې؟

ملکې تر لږ سوچ کولو وروسته وویل:

نه ملا صاحب! زه غواړم له عبدالجبار سره نکاح وکړم او تر دې وروسته له ده سره و اوسېږم.

عبدالجبار غوښتل له ملکې نه دفاع وکړي، خو ملا صاحب وویل:

ګوره لورې، یو خو راتلونکي حالات ما او عبدالجبار ته ډېر سخته دي، زه پوهېږم چې ته په داسې حالاتو کې ژوند نه سې کولای، بل هلته به وکولای شې له مونږ سره له هغه ځایه مرسته وکړې.

ملکې په بېړه وویل:

نو بیا زمونږ نکاح وتړه، چې عبدالجبار سره اړیکه ولرم، ځکه یا به عبدالجبار وغواړم او یا به زه راشم.

ملا صاحب وویل:

نه لورې اوس لاړ سه، کله چې پوهه سوې مونږ او آمریکا جګړه وکړه او یوه لورې وګټله بیا بېرته راسه او له عبدالجبار سره نکاح وتړه.

د ملا صاحب په دې خبره باندې ملکه څه نا څه زړه نا زړه شوه، ځکه طالبان د نړۍ یوازینې ځواک او د نړۍ یوازینۍ امپراطورۍ سره د پنجو نرمولو ته نږدې وؤ، نو بیا طالبانو د جګړې پای د طالبانو په ختمېدو او یا د امریکې په ماته او پښېمانۍ کې لیده، چې له دې سره د ملکې د خوب رېښتیا کېدل هم یو خوب پاتې کېده، خو ملکه مجبوره وه چې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ومني، ځکه عبدالجبار د ملا صاحب له هيڅ خبرې نه نه تېرېده او دې هم نشواى کولاى د ملا صاحب په زور له هغه سره پاتې شي، نو ځکه يې په وروستي ځل هم د عبدالجبار نظر وغوښت او ويې ويل:

سمه ده ملا صاحب چې ته او عبدالجبار داسې غواړئ نو بيا ښېخي ښه خبره ده.

ملکې د عبدالجبار نظر غوښته، خو عبدالجبار بيا نه غوښتل چې د ملاصاحب په خبرو کې خبره وکړي، کنه زړه خو يې نه غوښتل چې ملکه ترې لرې شي، خو بيا د مئينانو هغه منطق يې بيدار شو چې وايي جانان دې خوشحال وي، چې هر چېرې او له هرچا سره وي، خير که زه د مينې اور وسوځولم، ځکه په دې اور کبابېدل ډېر نا آشنا خوند لري. مئين خو له ابتدا نه د مينې لپاره راپاڅېدلى وؤ او که خداى کول د مينې پر بنسټ به تل د مينې په اور کې لوبه کوي، ځکه خو يې په موسکا وويل:

هو! ملکې اوس وخت کې په افغانستان کې نه شې اوسېداى، ځکه خو زه هم ستا په اړه د ملا صاحب دا پرېکړه تائيدوم.

ملکه پوهېده چې د عبدالجبار ځواب به همدا وي، خو يو ځل بيا هڅه وکړه او د عبدالجبار په ځواب سره يې په مينه ورته وکتل او بيا يې وويل:

سمه ده نو بيا کله حرکت کوؤ؟

ملا صاحب وويل:

نن د ورځې ۱۱:۳۰ اوس تاسو لاړ شئ، که څه کار دې وي ويې کړه، خو پرواز له لاسه ورنه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار او ملکه راووتل او بیا تر یوؤلسو بجو پورې په ښار کې یوه خوا او بله خوا وګرځېدل او بیا د هوایي ډګر خوا لاړل، الوتکه پرواز ته چمتو کېده چې عبدالجبار ته زنګ راغی د عبدالجبار خبرې اورېدل کېدې، خو د هغې خوا نه اورېدل کېدی، خو عبدالجبار هم یوازې دومره وویل چې سمه ده مشره او بیا اړیکه پرې شوه. کله چې ملکه الوتکې ته پورته کېده ویې ویل:

تاسر مینه لرم.

د عبدالجبار په زړه د ژمي په شان ګړندی توپان راغی ملکې ته یې موسکا وکړه او ویې ویل:

که دلته ژوند کولی شې او له ماسره زحمتونه زغملی شې نو بیا پاتې شه.

د عبدالجبار په دې خبره ملکه ځای پرځای ودرېده او مخ یې راواړاوه، تر یوې شېبې چوپتیا وروسته یې وویل:

خو د ملا صاحب امر څنګه کېږي؟

عبدالجبار له موسکا سره وویل:

زه له هغه سره غږېږم او قناعت ورکوم.

ملکه د الوتکې له پوړیو په راښکته کېدو وه چې الوتکې حرکت وکړ تر څو هوا ته پورته شي، عبدالجبار هم ملکې ته وویل:

ته موټر ته پورته شه زه د هوایي ډګر له مشر سره غږېږم چې تر څو ستا د الوتکې له پیلوټ سره وغږېږي، چې ستا شیان د بېرته راستنېدو پر مهال له ځان سره راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکې وویل:
خو له ماسره یوازې همدا بیك ده نور څه نه لرم.

عبدالجبار په موسکا ورته وویل:
نو بیا راځه چې دواړه په موټر کې ملا صاحب ته ورشو.

دواړه په مزه مزه تر موټر پورې ولاړل او چې کله هلته ورسېدل، نو عبدالجبار لومړی له موټر څخه مخابره را واخیسته او بیا یې غږ پکې وکړ:
مطمئن–عمري! مطمئن–عمري!

له هغه لوري نه غږ پکې راغی:
مطمئن یې اورم، وایه څه کیسه ده؟

عبدالجبار وویل:
چا چې زه غوښتی وم چېرته ده؟

له هغه لوري نه غږ راغی:
په دفتر کې ده.

عبدالجبار غوښتل بیا د ملکې سترګې وروتړي، خو چې څنګه یې پټۍ راواخیسته ملکې ترینه واخیسته او موټر ته پورته شوه، هلته یې خپل سترګې کلکې وتړلې، چې تر دې وروسته عبدالجبار هم موټر وخوت یوه ترانه یې ولګوله او بیا د ملا صاحب دفتر پر لوري ورغی.

کله چې دفتر ته ننوتل او ملاصاحب ملکه تړلې سترګې ولیده، نو عبدالجبار ته یې ښکته او پورته وکتل او بیا یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه کوې ظالمه؟ یوه مسلمانه د خپل امیر دفتر ته پټې سترګې راولې؟ او بله دا چې د کومې ښځې نه چې ته ما ډاروې هغه زما د استخباراتو د کارکوؤنکي مېرمنه جوړېدونکې ده، چې زما استخبارات تر ما ډېر مهم دي.

عبدالجبار ډېر وشرمېده، ځکه خو یې په عاجزانه لهجه وویل:
ملا صاحب! احتیاط ښه نه وي؟

ملا صاحب یې په ځواب کې وویل:
ګوره عبدالجباره! د پاکستان او عربو د استخباراتي مشرانو او د آی اېس آی مشر په لوڅو سترګو دلته راځي، خو یوه بېچاره نجلۍ په تړلو سترګو راغله، دا څه معنا لري؟ تر دې وروسته چې دا نجلۍ هر چېرته بیایې باید سترګې یې پرانیستې وي.

تر دې خبرو وروسته یې عبدالجبار ته د ملکې د سترګو پرانیستو اشاره وکړه او چې سترګې یې خلاصې شوې دواړو ته یې د کېناستو اشاره وکړه او بیا یې وویل:
سلیمه! پورته شه او مولوي عبدالهادي او مولوي صاحب برهان ته غږ کړه.

سلیم پاڅېده او پینځه دقیقې وروسته له دوه نورو کسانو سره راستون شو، ملا صاحب هم د عبدالجبار او ملکې نکاح وتړله او بیا یې دواړه رخصت کړل، دواړه کابل ته پر لاره ول چې ملکې وپوښتل:
مونږ چې په هوایي ډګر کې ولو، تاته چا زنګ وواهه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار ملکې ته وکتل، مخ يې لوخ کړی وؤ، چې له امله يې ګلابي شونډې، سپين مخ او ښکلې غتې او شنې سترګې له ورايه ښکارېدې، نو په موسکا يې ورته وويل:
اميرالمؤمنين ملاصاحب وؤ او ويې هغه نجلۍ له تاسره رېښتيني مينه کوي، ځکه له هغې نه پوښتنه وکړه چې له شته ستونزو سره هم په افغانستان کې پاتې کېدل غواړي او که نه؟ نو بيا خبره تر دې ځايه راورسېده.

*****

له کابله تر کندهاره پورې سفر سترې کوؤنکی وؤ، خو له هغې خوا بېرته راتګ بيا زړه پورې وؤ، ځکه اوس يې نکاح تړل شوې وه او کولای شول چې ښه په بېغمه زړه کيني او توکې ټکالې وکړي، دوئ يوازې يو ځل په کندهار کې ډوډۍ خوړلې وه او يو ځل يې هم د کابل په لاره کې د لارې په يوه برخه کې د ملکې يوې کوچۍ ته پام شو چې په اوښ پسې روانه وه، ځکه خو يې عبدالجبار ته وويل:
ځينو پښتنو ځوانانو چې کوچانی ژوند او کوچان په خپلو شعرونو او ليکنو کې ستايلي، هغوئ به همدا خلك ښايي؟

عبدالجبار يوه ترخه موسکا وکړه او بيا يې وويل:
هو! همدا دي، خو د هغوئ ستاينه ټوله بې ځايه او بې معنا ده، ځکه دا سمه ده چې مونږ ته د کوچانو ژوند ښکلی او په زړه پورې ښکاري، خو په اصل کې هېڅ داسې نه ده، ځکه په اصل کې د کوچانو ژوند ډېر له کړاؤنو او ستونزو ډك ده، سمه ده چې هغوئ يوه کوچۍ په ښکلو سرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامو کې لېدلې ده، چې په يوې اوښې پسې روانه ده. لکه تا چې وليده، خو هغوئ د کوچانو ژوند نه ده ليدلی ځکه يې صفت کوي خو آيا ته پوهېږې چې په کوچانو باندې داسې وختونه هم راځي چې په ورځو ورځو د اوداسه لپاره او په اونيو د غسل لپاره اوبه نه لري، چې د ډېرو نه وينځلو لپاره يې ټول وينښتان له سپږو ډك شي، د دې لپاره چې د سون توکي نه لري پچې سوځوي، چې د دې کار له امله آن کله کله په خوړو کې ترې غورځېږي، ډېر وختونه پاکې اوبه نه ورته پيدا کېږي، خړو او ختېينو اوبو ته محتاج وي، روغتون او ښوونځی، جومات او مدرسه يې سمه معلومه نه وي، پوهنتون لا څه کوي. دوئ داسې ژوند کوي. اوس ووايه څنګه ژوند لري؟

لږ شېبه غلی شو او بيا يې خپلو خبرو ته دوام ورکړ:

اوس هغه شاعران او ليکوالان چې د کوچانو د ژوند صفت کوي، آيا هغوئ دې ته چمتو دي چې لږ تر لږه يو کال له کوچانو سره وګرځي او معلمي وکړي، که نه؟

عبدالجبار خبرې کولې خو ملکې ته يې پام نه وؤ، يو وخت يې چې پام شو، نو فکر يې وکړ چې د دې خبرې بدې پرې ولږېدې، ځکه په ژړا شوې، نو چې له هغې نه يې د هغې د ژړا لامل وپوښته، هغې يې په ځواب کې وويل:

نه ګرانه! له تانه خفه نه يم، دغو بېچاره کوچانو ته مې زړه بد شو، ځکه مې وژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار هم د کوچانو دې حالت په بیا ورپه زړه کېدو ډېر خواشینی شو، ځکه خو موټر په کرار کړ او ملکې ته یې وویل:

ته ښه پوهېږې چې زمونږ حکومت وسه نه لري چې د افغانستان له ټولو وګړو سره مرسته وکړي، خو پخوانیو حکومتونو هم هېڅ ورته ونه کړل، نه یې کوم سیار ښوونځي ورته جوړ کړ، نه کوم سیار کلینیك او نه هم کوم بل څه.

ملکې په حیرانتیا وپوښتل:

نو تېرو حکومتونو ولې دې بېچاره خلکو ته خدمتونه نه دي وړاندې کړي؟

عبدالجبار بیا تر یوې ترخې موسکا وروسته وویل:

ځکه په افغانستان کې تل استعماري دولتونه تېر شوي او کوچان تقریباً تل د استعماري دولتونو په خلاف ول.

ملکې په وېرې وپوښتل:

آیا اوسنی حکومت استعماري نه ده؟

عبدالجبار یې په ځواب کې یوه موسکا وکړه او بیا یې وویل:

تر څو میاشتو مخکې پورې د پاکستان تر استعمار لاندې ولو، خو اوس یې څو میاشتې کېږي چې خلاص شوي یو، کنه د جان ویك تر وژلو وروسته داسې بېغمه نه شوې ګرځېدای...

ملکې چې عبدالجبار ته په ځیر ځیر وکتل، نو پام یې شو چې له ډېرو ګردونو او دوړو نه د عبدالجبار ږیرې او څڼو خپل تور رنګ له لاسه ورکړی وؤ او خړ اوښتي وؤ، ځکه خو یې په ټوکه ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای ګرانه! لا مو د واده دوه ورځې نه دي تېرې شوي، ږيره او ويښتان دې سپين کړل دا څه کوې؟

عبدالجبار په بېړه ځان په هېنداره کې وکوت او بيا يې وويل:

رېښتيا وايې! خلك په خوشحاليو کې تازه شي، خو ما پکې ږيره او ويښتان خړ کړل، اوس بايد ژر ځان کور ته ورسوؤ، چې رنګ يې کړم.

ملکه د عبدالجبار په دې خبره اندېښمنه شوه، ځکه يو خو وډاره شوه چې داسې نه وي د عبدالجبار ږيره او ويښتان سپين وي او دی يې رنګوي او بله دا چې نوره له صفيې، خديجې، سليم او قدرت نه هم شرمېده او دې احساس دا هم حيرانه کړې وه، ځکه چېرې دې هغه وخت چې په آمريکا کې وه واده کړی وای، نور د شرم پرځای به يې وياړ کاوه، خو نن په واده باندې شرمېږي په داسې حال کې چې واده د نړۍ په نړدې ټولو خلکو کې يو منل شوی دود ده په ټوکو کې يې دا خبرې له عبدالجبار سره شريکې کړې، چې هغه يې په ځواب کې وويل:

تشويش مه کوه! زه تر هغه څه چې ښکارم ډېر کوچنی يم او پاتې شوه د شرم خبره نو بايد ووايم...

د عبدالجبار تر دې خبرو وروسته ايله ملکې آرامه ساه واخيسته، خو حيا اجازه نه ورکوله چې آن کورته تر رسېدو پورې څه ووايي او چې ځنګه کور ته دننه ولاړ، نو صفيې د دې په ليدو له ډېرې خوشحالۍ نه چيغه پورته کړه او ملکه يې په غېږ کې کلکه ونيوله او بيا يې ترې وپوښتل:

خورې څه خبره وه، چېرته يې بوتلې او څه يې درسره وکړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکې په موسکا ورته وویل:
یو ځل خو مې کوټې ته دننه کړه ستړې شوې یم.

د صفیې هم پام شو، چې ملکه یې په دروازه کې درولې ده، ځکه خو یې د ورننوتو اجازه ورکړه چې ځنګه ملکه ورننوته، نو صفیه په چای پسې ولاړه، کله چې یې چای راوړ، نو ویې لیدل ملکه خوب وړې ده، لومړی خو یې د هغې د راپاڅولو فکر او سوچ په سر کې ګرځېده، خو وروسته یې زړه پرې ونه شو، ځکه خو بېرته ولاړه او یوه ډېره نرۍ کمپله یې راوړه او په ملکې یې خوره کړه تر څو ښه درونډ خوب وکړي، آن یې لمانځه ته راویښه نه کړه، وروسته له دې چې مازدیګر له خوبه را پاڅېده او خپل اودس او لمونځ یې وکړ، د دې د پوښتنو په ځواب کې یې وویل:
هغه څه وشول چې ماغوښتل، ملا صاحب محمد عمر مجاهد زمونږ نکاح راوتړله.

د دې خبرې په اورېدو د صفیې سترګې لـه حیرانتیا نـه غټې غټې وربرېښېدې او په حیرانتیا یې وپوښتل:
ته یې د وژلو لپاره نه وې وړې؟

ملکه د صفیې په دې خبره حیرانه شوه او ویې پوښتل:
ته خپل دولت ته په څومره بد نظر ګورې؟

صفیې وویل:
خو بي بي سي وایي چې طالبان بهرنیان وژني.

ملکې په خندا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوره صفيې خورې! بي بي سي (BBC) هغه څه وايي چې د انګلستان استخباراتو يې په خلکو اوريدل غواړي، خبره يې ملا صاحب محمد عمر مجاهد ماته لورې ويل.

د ملکې دا خبره صفيې دروغ وګڼله، ځکه خو يې وويل:
څه؟ فکر کوم هغه به علم غيب لري چې په دې خبر شو چې تا غوښتل هغه ستا نکاح وتړي.

ملکه حيرانه شوه او ويې ويل:
نه پوهېږم چې علم غيب لا څه شی ده، خو په دې پوهېږم چې په نړۍ کې داسې بل مشر نه شته.

صفيې په حيرانتيا وپوښتل:
ولې ستاسو مشران ښه خلك نه دي، چې ستاسو وطن يې داسې ښکلی جوړ کړی ده؟

ملکې د صفيې دې خبرې ته وخندل او همداسې په خندا يې وويل:
نه زموږ هيواد د هغه ځای اوسېدونکو جوړ کړی ده، زمونږ مشرانو يوازې ځان ته پيسې وګټلې او اوس خپله هغو پيسو باندې مزې کوي او خلك يې د هغو پيسو په بدل کې غلامان کړي او که چېرته کوم وخت د هغوئ باداري په خطر کې ولوېږي، نو بيا ځان کانديد کړي اولس مشر شي، خپله باداري نوره پراخه کړي او شته خطرونه د خپلې بادارۍ ساتلو لپاره له منځه يوسي او بيا بل همداسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ملکې په دې خبرو باندې صفيه ښځې حيرانه شوه، په حيرانتيا يې ووېل:

يعنې ستاسو په هيواد کې يوازې پيسې لرونکي خلك کولای شي، چې ريس جمهور شي.

ملکې د هو په معنا سر وښوراوه او بيا د آمريکا په اړه سوچ کې لاړه، هغه هيواد چې نورو هيوادو ته ډيموکراسي غواړي، خو خپله ډيموکراسي يې بيا د جمهوري غوښتونکو او ډيموکراتانو له ګوندونو نه تېرېږي، هغه هيواد چې له نورو هيوادونو نه د بشر حقونو مراعتول غواړي، خو خپله نه بشر پېژني او نه هم د هغوئ حقونه، ترهګري خپله کوي، خو نومونه په خپلو مخالفينو ږدي. تر ډېره يې همداسې سوچونه کول، خو چې څنګه خديجه راغله نو صفيې پرې غږ کړ:

ملکې وربنداري! څه سوچ کې لاړې چې مونږ وينې هم نه؟

د صفيې له دې خبرې سره ملکې او خديجې دواړو ټکان وخوړ، ملکه له خوبه ووته، خو خديجه د وربندار کلمې ته حيرانه شوه. ځکه څوك چې د ملکې وربندار شي هرو مرو د دې اينګور کېږي، ځکه ډېره حيرانه شوه او همداسې په حيرانتيا کې يې وپوښتل:

تا ملکې ته وربندار ووېل؟

صفيې ته بيا د ټوکې موقع په لاس ورغله، ځکه خو يې په ټوکه ووېل:

مورې! بېګاه يې له سليم سره نکاح تړلې ده، ته خبره نه يې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلیم نوی زلمی وؤ، خو له څېرې نه تقریباً د ۲۲ یا ۲۳ کلونو وؤ، دا چې په اصل کې سلیم د ۱۶ کلونو وؤ، نو په وراخطایي یې له صفیې نه وپوښتل:
څه له سلیم سره یې نکاح شوې، آغه خو لاتر اوسه پورې کوچنی هلك ده؟

صفیې غوښتل چې له خپلې مور خدیجې سره ټوکې ته دوام ورکړي، خو بله خوا ملکې غوښتل چې خوابنې ته هرڅه ووایي څو نوره ونه ځورېږي خو نه پوهېده چې داسې څه ماده یې په وجود کې پیدا شوه، چې دا یې دې کار ته نه پرېښوده چې د خپلې نکاح په اړه خوابنې ته څه ووایي ځکه خو یې یوازې دومره وویل چې:
نه زما او سلیم نکاح نه ده شوې.

د ملکې تر دې جملې وروسته صفیې ته هم نور د ټوکې لپاره څه نه وؤ پاتې ځکه خو یې هغه څه چې ریښتیا وؤ وویل، چې په دې خبرو خدیجه هم ډېره خوشحاله وه، صفیې چې د مور خوشحالي ولیده نو دې ته هم ورپه زړه شول چې دا هم خوشحاله له ده، ځکه خو یې خدیجې ته وویل:
مورې نکاح خو یې وشوه، هغه هم بې له دې چې مور پکې واوسو، سلیم ولېږه چې لږ کیك، کلچې، شیدې او ګلان راوړي، چې همسایه ګانو ته محفل جوړ کړو و بل کوټه ورته په ګلانو ولړو.

د خدیجې هم دا خبره خوښه شوه، خو ستونزه پکې دا وه، چې اوس ماښام وؤ، یوه خبره خو دا وه چې ګل فروشیانې بندې وي او که خلاصې وې نه وه معلومه، بله خبره دا وه چې اوس نو شپه وه، مېلمانه یې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

را دعوت کړي وای، بیایې سوچ وکړ، چې اوس به عبدالجبار او ملکې ته د واده شپه جوړه کړو، مېلمانه به د سهار چای ختم ته را دعوت کړو، ځکه خو یې هم سلیم په ګلانو پسې ولېږه.

کله چې سلیم په ګلانو پسې ته نو ملکه ډېره خوشحاله شوه او دا سوچ یې وکړ چې دا به خپله کوټه پخپله سینګاروي او دا چې نن به د افغان ناوې ګانو په شان په ګلونو سنیګار شوې کوټې ته ناوې ځي، دا په همدې سوچونو کې وه چې صفیې د دې په ځورولو باندې شروع وکړه او ښه یې وځوروله، تر څو سلیم بېرته راورسېده او کله چې سلیم راورسېده او ګلونه یې صفیې ته وسپارل نو، ملکې غوښتل لکه څنګه یې چې سوچ کړی وؤ، هغسې به د ګلونو په سینګارولو کې له صفیې سره مرسته کوي او ګلان به په خپله خوښه سینګاروي، خو یو ځل بیا په دې کې هغه ماده را ژوندۍ شوه چې هر ځل به یې په دې کې د ځینو کارونو نه منع کوله، که څه هم صفیې په وار وار ورته ټینګار وکړ چې باید دا هم ورشي او د ګلانو په سینګار کې نظر ورکړي، خو دې ونه منله او هېڅ هغې کوټې ته ورنه غله.

صفیه، خدیجه او سلیم اخته شول او د عبدالجبار کوټه یې په ګلانو باندې سینګار کړه، خو ملکه هېڅ له خپله ځایه ونه ښورېده کله چې عبدالجبار او ښاغلی قدرت راغی نو صفیې او خدیجې عبدالجبار ته مبارکي ورکړه، چې په دې کې ښاغلی قدرت هم حیرانه شو، خو مخکې تر دې چې پوښتنه وکړي، صفیې هرڅه ورته وویل، ځکه خو ده هم عبدالجبار په غېږ کې ټینګ کړ او مبارکي یې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول ناست ول او کرار کرار شپه هم ناوخته کېده، تر او اوسه يې عبدالجبار او ملکې ته ډېر ويلي ول چې خپلې کوټې ته ولاړ شئ، خو هغوئ شرمېدل، آن عبدالجبار دا جرأت نه شو کولای ملکه خو لا څه کوي، ځکه خو ښاغلي قدرت عبدالجبار په يوه بهانه بوته او صفيې ملکه او دواړه يې د هغوئ کوټې ته په نوبت ننه ايستل.

کوټې ته خو نورو را دننه کړل، خو اوس به دا جرأت څوك وکړي چې خبرې وکړي، ملکې د خپلې خواښې خديجې د واده کالي اغوستي ول او د هغې شال يې په سرکړی وؤ، خو عبدالجبار کله دا جرأت لاره چې د هغې له سره شال لرې کړي او ملکې ته هم خديجې او صفيې دا ويلي ول چې بايد په تمه شي چې خاوند يې شال د هغې له سره لرې کړي. ډېر وخت داسې تېر شو چې يو بل ته يې د سترګو له کونجو کتل، بيا عبدالجبار له يوه درواغجن ټوخي وروسته وويل:

ملکې لمونځ دې کړی.

ملکه دې ته حيرانه وه، چې څنګه ځواب ورکړي، ځکه دا جرأت يې نه شو کولی تر څه ځنډ وروسته يې په ډېر ټيټ غږ وويل:

هو!

بيا عبدالجبار وويل:

شال دې راکړه چې زه هم لمونځ پې کوم.

ملکې شال ورکړ، خو کله چې عبدالجبار په لمانځه ودرېده، دا پاڅېده د عبدالجبار څادر يې پر سر او ځان را خور کړ او په عبدالجبار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسي يې اقتدا وکړه، خو په لمانځه کې يې پام شو چې نه عبدالجبار دې ته ويلي دي او نه دې دا سوچ کړی وؤ، نو بيا څنګه دې داسې کار وکړ.

بلآخره لمونځ پای ته ورسېده، دا هغه دوه رکعته شکرانه لمونځ وؤ، چې بايد يې نوې واده شوې جوړه د واده په اوله شپه ادا کړي څکه چې له ګناهونو خلاص شوي او د دواړو ايمان له نکاح سره پوره کېږي، تر لمانځه وروسته عبدالجبار د ملکې شال بېرته ملکې ته ورکړ او ورته وېې ويل:

لاړه شه بېرته همداسې په تخت کېنه لکه څنګه چې تر لمانځه مخکې ناسته وې.

ملکه هم بېرته پاڅېده او هغسې کېناسته، بيا عبدالجبار ورغی او لومړی يې يو څه نصيحتونه ورته وکړل او وروسته يې خپل او هغې عادتونه سره تېر کړل او بيا يې د هغې له مخ نه شال لرې کړ، چې له دې سره يې يوه ډېره ښکلې او زړه راښکونکې څېره وليده، داسې چې يې په ليدو يې نږدې ضُعف کړی وؤ.

*****

شپې او ورځې تېرېدې او د آمريکا اخطارونه ورځ په ورځ ډېرېدل، هغوئ اسامه بن لادن غوښته، خو ملا صاحب محمد عمر آخوند کله دا خبره منله، د مشرانو له ډېر ټينګار وروسته ملا صاحب يوازې دې تا حاضر شو چې اسامه بن لادن به يو درېم اسلامي هيواد ته سپارل کېږي او هغه هيواد به يې محاکمه کوي، خو آمريکايانو خپل بېساری پوځي ځواك، زر او زور ته په کتو دا کار نه مانه، هغوئ د کبر او غرور هغه حد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسېدلي وؤ، چې ترې رابښکته کېدل ناشوني وؤ، ځکه خو مذاکراتو ګټه ونه کړله.

آمریکا او غرب خو کفري هیوادونه وؤ، پاکستان او سعودي عربستان بیا چې ځان ته اسلامي هیوادونه هم وايي، د غرب پر خوا روان وؤ. د پاکستان یو شمېر مشران ملاصاحب ته ورغلل او ورته ویې ویل:
تاسو اسامه له افغانستان څخه وباسئ او د ډیورنډ کرښه رسمي سرحد اعلان کړئ، بیا به مونږ آمریکا له بریده را وګرځوؤ.

ملا صاحب په ډېره حوصله ورته وویل:
ډوډۍ بس که او پورته سه! زه به اسامه ته ونه وایم چې له دې ځایه پورته سه او هلته کېنه او نه به چاته اجازه ورکړم او پاتې سوه د ډیورنډ خبره، نو باید ووایم چې زه یو ملا یم او دا د ملایانو کار نه ده ورسه او د خارجه وزیر سره په دې موضوع باندې وغږېږه.

کله چې دا چارواکي لاړل او خارجه وزیر ته یې دا خبره یاده کړه، نو تر لږ ځنډ او سوچ وروسته هغه ورته وویل:
ټول افغانستان دې له تا ځار وي، ټول افغانستان دې پاکستان شي، خو د پاکستان واکمني دې افغانانو ته د تل لپاره ورکړل شي.

پاکستاني چارواکي وویل:
داسې کله امکان لري؟ پاکستان د پاکستانیانو خاوره ده.

وزیر صاحب په موسکا وویل:
موږه پاکستان د افغانستان خاوره ګڼو او ته ډیورنډ سرحد اعلانول غواړې، زموږ سرحد د کشمیر پای ده او چې زر او زور لرئ ویې ډنګوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځنګه يې ډنګولی شئ، خو چې موږ ته زور په لاس راغی بيا به مو وپېژنئ چې د احمدشاه ابدالي سکني يو او که نه.

چې له دې سره زموږ اړيکې له پاکستان سره کرار کرار په خرابېدو شوې او سعودي عربستان وګورئ. د سعودي عربستان د استخباراتو مشر ترکي الفيصل له يوه قفس سره کندهار ته لاړه او د ملا صاحب نه يې د اسامه بن لادن تسليمول وغوښتل، چې هغه وخت ملاصاحب له قفس نه هم نه وؤ خبر شوی وؤ، نو ترکي الفيصل يې هم وزير خارجه ته ورلېږلی وؤ، ترکي الفيصل ورته ويلي وؤ:
تاسې بايد اسامه بن لادن مونږ ته وسپارئ، ځکه موږ د اسلام مشران يو او کعبه او روضه ساتو.

وزير صاحب ورته په ډېره نرمه دغه سخته خبره کړې وه:
دا به په راتلونکی کې معلومه شي چې څوك د اسلام مشران دي او تاسې کعبه او روضه نه ساتئ، بلکې دا کعبه او روضه ده چې تاسو ساتي، کنه بيا به تاسې ليدلي وای، چې افغانان څوك دي او ملا صاحب له احمدشاه ابدالي سره څه اړيکه لري. رذيلانو د يوه مؤمن ورور لپاره د سپيو قفس راوړئ؟

چې تر دې وروسته بيا له سعودی عربستان سره هم زمونږ اړيکې خرابې شوې.

يوه ورځ اسامه په خوست کې يوه غونډه لرله، چې هغه ځای آمريکا په کروز توغنديو وويشت، خو په هغو توغنديو کې ډېر يې هسې خنثا شول او چاودنه يې ونه کړه، چې له دې خبرې نه چين خبر شو او چين زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرانو ته دا وعده ورکړه، چې دوئ به دا توغندي کاپي کړي او بیا به یې افغانستان ته هم ورکړي، خو آی اس آی له دې خبرې نه خبر شو او دا خبره یې رسنیزه کړه او له دې سره چین وډار شو او دا کار پاتې شو. چې دا د پاکستان لومړنۍ دښمني وه.

*****

ورځې او شپې تېرېدې، خو د ملکې او عبدالجبار مینه ورځ په ورځ ډېرېده، ملکې خاص د عبدالجبار لپاره د حلوا پخول زده کړل او هغه هم له صفیې او خدیجې نه نه بلکې داسې یوې ښځې نه چې ځوك به له ډار نه ورسره کېناستل نه، خو ملکې له هغې نه د حلوا پخول زده کړل، کرار کرار د صفیې واده هم رانږدې شو، د هغې خسرګنۍ له ښاغلي قدرت نه واده غوښته، ځکه خو ښاغلي قدرت خپل ورور سمیع الله له پېښور نه راوغوښته، چې له هغه سره د ښاغلي قدرت د وروركورنۍ او مور هم راغله، د ښاغلي قدرت مور صفیه ډېره کوچنۍ لیدلې وه او ملکه خو یې بېخي لیدلې نه وه، ځکه چې کله د ښاغلي قدرت کره راغله د صفیې او ملکې تر منځ یې یوازې د سترګو او پوستکی د رنګ له امله توپیر وکړای شو، هغه داسې چې ملکه د شنو سترګو او سپین پوستکي خاونده وه، خو صفیې بیا تورې سترګې او لږ څه غنم رنګه پوستکی لاره، د تره ښځې یې چې ولیده، نو ډېر په ګیله منه لهجه یې خدیجې ته وویل:

خورې چې دومره ښایسته لور دې لرله، نو ماته خو به دې ویلي وو، چې په خپلو کې واده شوې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خديجې ورته وويل:

آی خورې! څه ښه به مې درته ويل چې راشه زما لور وګوره څومره ښايسته ده.

صابرې وويل:

وی خورې! خو په کومه بهانه به دې راغوښتې وم، وی ريښتيا دا بله جيلکۍ څوک ده؟

خديجې وويل:

څه بهانه به مې کړې وه خورې؟ او دا خو مې اينګور ده.

صابره:

وی خورې! خو د دې واده ته به دې راغوښتې وم.

خديجه:

څه ووايم خورې؟ د دې واده دومره په وارخطايي کې وشو، چې د کابل دوستان هم خبر نه شول.

صابره:

وی خورې داته څه وايې! دا د کوم ځي ده؟ فکر کوم چې ځائۍ به وي.

خديجې په شرمېدونکې لهجه وويل:

نه خورې دا د آمريکا ده.

د خديجې په دې خبرې ټولې نجونې او ښځې حېرانه شوې د خديجې خوابنې وويل:

دا ته څه وايې، تا يوه انګرېزه کاپيره خپل زوی ته کړې ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدیجې په ډېره نرمه لهجه وویل:
نه ادې انګرېزه ده، خو مسلمانه ده او نکاح یې ملاصاحب تړلې ده.

د خدیجې خوابښې په غوصه وویل:
نو دا لاکوم دوؤس ملا وؤ، چې زما د لمسي نکاح یې له یوې انګرېزې سره تړلې ده؟

ملکې غوښتل خبره یې ځواب کړي، خو هغه ماده بیا را ژوندۍ شوه، دې یوه شپه د دې مادې په اړه له عبدالجبار نه پوښتلي ول، چې عبدالجبار یې په ځواب کې ویلي ول:
په مسلمانو نجونو کې د حیا په نوم ماده وي او په هلکانو کې د غیرت په نوم، څومره چې دا ماده په مسلمان کې کمېږي ایمان یې هم کمېږي.

ملکه په همدې سوچ کې وه چې صفیې وویل:
بي بي جان! د دوئ نکاح ملا صاحب محمد عمر مجاهد اخوند حفظه الله تړلې ده.

د صفیې ملا صاحب نه خوښېده او هر وخت به یې هغه د ملا عمر او آن کله کله به یې ملا چغر ورته ویل، خو ملکه پوهه نه شوه چې دا ځل یې د ملکې د دفاع لپاره ولې صفتونه په ملا صاحب پورې وتړل، خو د دې دا خبره لامل شوه چې د ټولو خولې بندې شي. خولې خو بندې شوې، خو د ټولو په زړه کې ملکې ته یو ډول کرکه پیدا شوې وه، چې دې کار نه یوازې ملکه ځوروله بلکې صفیه او خدیجه یې هم ځورولې او کرار کرار دا خبره سړیو ته هم ورسېده، چې سړیو به نو عبدالجبار په کرار نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښوده، چا به ویل هسې چټې یې په ملایانو ملا نوم ایښی ده، باید بلا یې ورته ویلی، چا به ویل امربالمعروف و نهی عن المنکر ایله په موږ پسې وګرځي ملایانو ته هېڅ هم نه وایي او چا به ویل ملایان هم څه بلا خلك دی نورو ته مسئلې کوي او خپله پرې حملې.

تر څو چې صفیه واده کېده د هغې په کورنۍ باندې د هغې نیا او د هغې د تره کورنۍ نړۍ اور ګرځولې وه، آن کله چې صفیه واده شوه او په تخت کې کېناسته غمجنه ښکارېده، ځکه خو چې څنګه حبیبی راغی نو د دې خفګان او سوچ په لیدو یې په ټوکه وویل:

آه ګرانې! واده مو کړی څه جنازه خو مو نه ده کړې.

خو صفیه په داسې یوه سوچ کې وه، چې د حبیبي غږ یې هېڅ وانه ورېده، ځکه خو حبیبي بیا پوښتنه وکړه:

څنګه چل ده په واده رضا نه وې که څنګه؟

دا ځل صفیې خبره واورېده او له خبرې سره یې دې ته پام شو چې خاوند یې کوټې ته راغی، د هغه په خبره یې لنډ سوچ وکړ او بیا یې وویل:

نه د اکا زو ته څه وایې؟

حبیبی:

نو بیا دې دا ټنډه ولې داسې تروشه ده؟

صفیې په ډېر ټیټ غږ ټوله کیسه له سره تر پایه ورته تېره کړه، کله چې حبیبي کیسه واورېده، نو ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو مېرمن جايس ستا ورېندار شوه، که رېښتيا درته ووايم نو ورور دې ډېر چالاکه ده، ځکه د سي آی اې جاسوسه يې لاندې کړه.

د لاندې کلمې سره صفيې لږ تروه ور وکتل، ځکه خو حبيب هم په ټوکه ورته وويل:

که جبار دې ورور نه وای او يا ملکه د بل چا ښځه وای، نو پوهه شه چې ورسره بدلولې مې.

دا خبره نه وه سم غم وه، سمدلاسه صفيه مروره شوه، چې حبيبي هرڅه وکړل، دا پخلا نه شوه، آن هغومره مروره چې حبيبي وويل:

سړی بد کوي چې له خپلې مېرمنې سره ټوکه کوي، خوږې! زه دې يو تار وېښته په ټولو ملکو هم نه ورکوم، ته لا دا يوه ښيې.

نه پوهېږم چې ښځو سره دا د اوښکو سېلاب له کومه ملګرى شوی او عجبه دا ده چې ډېر کله دا سېلاب د خفګان پر وخت د هغوئ پر مخ نه راځي، خو د خوشحالۍ پر وخت حتماً راځي، همدا لامل وؤ چې د صفيې په تورو سترګو کې د اوښکو سېلاب وخوټېده او لارې يې وکړې، همداسې په اښلنو سترګو يې وويل:

زه هم مروره نه وم ټوکې مې کولې.

حبيبي ترخه موسکا وکړه او بيا يې وويل:

زه خوږې په خدای که دې ټوکې کولې.

وبخښئ نو تر دې وروسته خبرې او کارونه د ښځې او خاوند تر منځ راز ده. هسې زه هم نه يم خبر چې څه به يې کړي وي، نو وبخښئ چې نه يې وايم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

*****

کله چې صفیه واده شوه، نو د ښاغلي قدرت د ورور کورنۍ هم لاړه او یوازې د ښاغلي قدرت مور پاتې شوه، تر دې وروسته د ښاغلي قدرت د مور عایشې او ملکې اړیکې کرار کرار په ښه کېدو شوې، هر ورځ به دوئ یو بل ته نږدې کېدې، لږ لږ به یې خبرې سره کولې تر دې چې نورې سره ملګرې شوې، درېواړه به سره ناستې وې یعنې اینګور، خواښې او د خواښې خواښې، د ډوډۍ تیارولو پر مهال به اینګور او خواښې دواړه پخلنځي ته ولاړې ځکه د خوړو پخول لا د ملکې نه ول زده، یوه ورځ عایشې انا پوښتنه ترې وکړه:
ولې په آمریکا کې ښځې خواړه نه پخوي؟

ملکې وویل:
پخوي یې خو ډېر کم، ځکه اکثره له بازار نه سپك او تېز خواړه اخلي.

عایشې انا په خیرانتیا وپوښتل:
لکه د خنذیر غوښه؟

ملکې یوه موسکا وکړه او بیا یې وویل:
سمه ده چې آمریکایان او اروپایان د خوګ غوښه خوري، خو ډېره یې نه خوري، بلکې ډېر همبرګر، پیزا، هاټ ډاګ او داسې نور شیان خوري.

دوئ دا خبرې کولې چې عبدالجبار راغی او درېواړو ته یې وویل:
زه ملا صاحب کندهار ته غوښتی یم، راغلم چې تاسونه خدای په اماني واخلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بس د دې خبرې په اورېدو ملکه بیا په ژړا شوه، ګر څه عبدالجبار، عایشې انا او خدیجې ډېر هڅه وکړه چې حال یې وربدل کړي، خو د ملکې اوښکې نه ودرېدې، په پای کې عایشه انا او خدیجه ترور هم ورسره په ژړا شوې، چې دې کار عبدالجبار د غرمې ډوډۍ ته وځنډاوه، پینځه واړو ډوډۍ وخوړه او بیا عبدالجبار اخوند رخصت واخیسته او د کندهار پر لور روان شو.

تر کمپنۍ پورې ډېر ګړندی لاړ، هلته یې په یو جومات کې لمونځ وکړ او بیا بېرته په موټر کې کېناست، لرې نه یې یو بوډا ته پام ؤ چې له خپلې کورنۍ سره د سړك تر غاړې ولاړ وؤ، هر موټر به ورته ودرېده، خو بې له دې چې پورته یې کړي بېرته به یې حرکت وکړ. عبدالجبار چې ورنږدې شو، موټر یې ورته ودراوه او د پورته کېدو اشاره یې ورته وکړه، چې پورته شئ، چې ټول پورته شول او ده حرکت وکړ، نو عبدالجبار پوښتنه ترې وکړه:

اکا! چېرته ځئ او څه کیسه ده چې موټر ته پورته نه شوئ.

اکا خپلې راغلې اوښکې پاکې کړې او بیا یې په خواشیني غږ عبدالجبار ته وویل:

ارزګان ته روان یم، زوی مې طالبانو ونیوه د غلا په تور، قسم په خدای چې بې ګناه ده، ما ډېر عذرونه او زارۍ ورته وکړې، خو ویې نه منله، بیا هغه طالب چې زما زوی یې نیولی وؤ وویل:

که سل لکه روپۍ راکړې زوی دې خوشې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې یې هم رانه واخیستې او سبا به مې د زوی لاس هم پرې کېږي، اوس راسره د موټر کرایه نه وه چا پورته کولم نه.

عبدالجبار:

زوی دې چېرته او چا ونیوه؟

اکا وویل:

ابله ورځ یې په ده افغانانو کې ونیوه، هغه طالب احمد رازي نومېده.

عبدالجبار په لاره کې یوه طالب ته موټر ودراوه او بیا یې یو لیک ولیکه او هغه ته یې ورکړ او ویې ویل:

ځوانه په قومندان به دې زما یعنې عبدالجبار عمري سلام ووایې او بیا به دا لیك د استخباراتو مرکز ته ورکړې، نور نو د خدای په امان.

زما په آند دې هلك ته ځوان ویل هم په کار نه وؤ، ځکه لرګي پرې ډېره ښېګڼه لرله او له رنګ نه هم تك تور وؤ، خو ځوان پوره اطمینان ورکړ. ځکه خو عبدالجبار هم رخصت ترې واخیسته او حرکت یې وکړ.

یو وخت په لاره کې یوه هوټل ته هم ورتاو شو، خپله یې لوبیا وخوړه خو په اکا او د هغه په کورنۍ باندې یې کړایي وخوړه او بیا یې اکا هم په ارزګان کې د هغه کور ته ورساوه. که څه هم اکا ډېر شله شو، خو عبدالجبار ترېنه رخصت واخیسته او د کندهار پر لوري یې حرکت وکړ، تر کندهار پورې یې دا ترانه اوربده:

طالبان دې واړه شهیدان کړل

و د دوزخ لایقه ګرمو لمبو ته به ورځې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ځنګه به خلاصه شوه. بیا به یې له سره کړه او ورته غوږ به شو، ښه وؤ چې هغه وخت بسمل نه وؤ ورسره او یا به هغه شاعر نه وؤ، هسې په هغه وخت کې خو ما د سجاد ترانه د هغه وخت له طالبانو سره نه وه اورېدلې، نه پوهېږم چې نه به وه او که ما نه ده اورېدلې.

چې کله عبدالجبار کندهار ته ورسېده او د استخباراتو مرکز ته لاړ، نو ویې لیدل چې څوك نه شته، بې له کارکوونکو چې پوښتنه یې وکړه، نو یوه تن ورته وویل:

سبا ته غونډه ده، مشران ټول هلته راغونډتل شوي دي.

عبدالجبار بې له دې چې څه ووایي د استخباراتو له مرکز نه راووت. لومړی خو یې زړه وؤ چې د استخباراتو مېلمستون ته ورشي، خو وروسته یې زړه ونه شو او لاړه په یوه هوټل کې یې شپه تېره کړه، سهار جمعه ولاړه وه، چې عبدالجبار را پاڅېده، ویې لیدل چې په هوټل کې هیڅوك هم نه شته لاړه په جومات کې یې اودس او لمونځ وکړ او بیا راغی او د سهار چای یې په هوټل کې وڅښه.

تر چای وروسته یې دباندې د وتلو نیت وکړ، خو مخکې تر دې چې راووځي، یوه کس یې پر اوږه لاس کېښود چې عبدالجبار مخ ورواړاوه، نو ویې لیدل چې د استخباراتو مشر ده، مخکې تر دې چې څه ووایي د استخباراتو مشر ورته وویل:

اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاته! څنګه چل ده وروره ولې خپل مېلمستون ته لاړې نه چې دلته راغلې؟

عبدالجبار ورته په ټوکه وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر مې نه کاوه چې ته به خبر شې.

د استخباراتو مشر وویل:

درځه چې دباندې ووځو او دا راته ووایه چې په ارزګان کې دې څه کول؟

عبدالجبار په موسکا وویل:

له هغې خبرې نه به هم خبر یې کنه مشره؟

د استخباراتو مشر وویل:

نه یارو کابل او شا او خوا مې تاسو ته پرېښې دي، ما یوازې لوی کندهار تر نظر لاندې نیولی ده.

عبدالجبار تر لږ څه ځنډ وروسته وویل:

څه خبرې او کیسې دي، چې موږ مو راوغوښتلو؟

د استخباراتو مشر په موسکا وویل:

ناظر راغلی ده او له ځان سره یې د ارسلان خاورین مړی هم راوړی وؤ.

عبدالجبار په حیرانتیا وپوښتل:

ما د ناظر په اړه له مشر سره خبره کړې وه، خو هغه ویل اوس یې وخت نه ده، خو اوس چې خبرېږم هغه له ما نه مشر ته ډېر نږدې ده.

د استخباراتو مشر وویل:

ځکه د هغه ملګرتیا له مشر سره تر موږ پخوانۍ وه.

عبدالجبار په موسکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا خو حکمتیار پرې ملامت نه وؤ، چې د استخباراتو مشري یې ورکړې وه.

د استخباراتو مشر وویل:

د ارزګان په اړه دې ونه ویل، په ارزګان کې څه خبره وه؟

عبدالجبار وویل:

نو ته نه درېږې. هغه سپین ږیري ویل چې د هغه زوی مونږ بې ګناه نیولی او د احمد رازي په نامه کوم کس پیسې ترې اخیستي دي. اوس پیسې نه لري چې کلي ته لاړ شي، ځکه خو مې ورساوه.

د استخباراتو مشر وویل:

څه چل ده په ښار کې ګرځې او سودا کوې که نه؟

عبدالجبار په ټوکه وویل:

نو زه به څه واخلم چې هغه په کابل کې پیدا کېږي نه؟

د استخباراتو مشر وویل:

ولې ګرانه ورېنداري ته کندهاری صابون یوسه او یا د خپلو تودو شپو لپاره کمپلې.

د عبدالجبار هم دا خبره خوښه شوه، ځکه خو لومړی وېش بازار ته لاړه څو ښکلې او قیمتي کمپلې یې واخیستې او بیا د صابون شرکت ته لاړ او د خدیجې، عایشې، صفیې او ملکې لپاره یې یې صابونونه وپېرل.

تر ماښامه په بازار وګرځېدل او بیا د استخباراتو مرکز ته لاړل، هخوا په کابل کې صفیه د خپل پلار کورته راغلې وه او بیا یې هلته یوه نجلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیده چې د دې ملکې او عایشې خوښه شوه او درېواړو ټینګار کاوه چې سلیم ته یې وکړي، خو خدیجې سلیم کوچنی باله او د هغه واده یې لالرې باله. د شپې چې کله ښاغلی قدرت کور ته راغی او له کیسې نه خبر شو، نو هغه دا غوره وګڼله چې عبدالجبار ته هم په تمه شي ترڅو هغه د دې نجلۍ د کورنۍ په اړه معلومات را ټول کړي او بل هغه په هر کار کې مشوره یوه ښه کار ګاڼه.

په کندهار کې هم غونډه پیل شوه، ناظر لومړی خبرې پیل کړې او ویې ویل:

اسلام علیکم ورحمته الله وبرکاتُه!

نن هغه ورځ ده چې موږ نور د فلسطین له مسئلې نه په بشپړ ډول ووتلو، تر دې وروسته به هغه خلك جګړه ونه شي کړای چې د فلسطین جهاد ته یې د عربو او اسرائیلو جنګ ویل.

موږ خو د ارسلان خاورین له امله له دې جګړې نه شاته شولو، خو تر موږ وروروسته بل داسې نر نه شته چې د اسرائیلو خلاف جهاد وکړي.

نور له فلسطینیانو نه هم دا هیله مه لرئ چې د اسرائیلو پر وړاندې به جهاد وکړي، ځکه د هغوئ جهاد د تیرو او ډایرونو د سوزېدو تر سرحده پورې ده او تر دې نه اوړي او اوس اسرائیل له کوډو نه هم په جګړه کې کار اخلي، د ارسلان خاورین تر وژل کېدو پورې یې دا کار نه کاوه خو اوس یې دا کار هم شروع کړ.

تر ناظر وروسته د استخباراتو مشر پورته شو او خپلې خبرې یې داسې پیل کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام علیکم ورحمته الله و برکاتُه!

ټول ستړي مه شئ ورونو په دې هم پوه شئ چې آمریکا له نورو هیوادونو سره غږیږي تر څو نړۍ زمونږ پر وړاندې ودروي او آمریکا په دې هم توانیدلې ده چې ډېر هیوادونه زمونږ پر وړاندې خپلې همکارۍ ته چمتو کړي. آن پاکستان چې خلك یې زمونږ یوازېنی ملاتړ او بادار ګڼي له آمریکا سره همکارۍ ته چمتو ده.

تاسو به فکر کوئ چې آمریکا اسامه غواړي، خو داسې نه ده، اسامه هسې یوه پلمه ده، اصلي هدف یې استعمار ده، نو ټول باید بیدار اوسو، ځکه حامد کرزي په لوی کندهار کې، دوستم، رباني او نورو یې په شمال او غرب کې او ځینو یې په شرق کې فعالیت شروع کړی او موږ مکلف یو چې مخه یې ونیسو.

د استخباراتو مشر تر خبرو وروسته ټولو یو بل ته وکتل او بیا یې توکل پر خدای وویل. تر هغه وروسته ملا صاحب خپلې خبرې پیل کړې او ویې ویل:

بسم الله الرحمٰن الرحیم!

محترمو ورڼو!

دا چې هر څه تاسې په خپلو سترګو ګورئ او په خپلو غوږونو یې اورئ، نو ضرور یې نه ګڼم چې تاسو ته ووایم څه شوي؟ څه روان دي؟ او څه به کیږي؟ څو پورې به په دې غږیږم چې څه کوؤ او څه کول ضرور دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو پوهېږئ چې آمريکا اسامه غواړي، خو اسلام وايي مسلمان د مسلمان ورور ده نه ظلم پرې کوي او نه يې تسليموي او بله خبره دا چې موږ پښتانه افغانان يو او زموږ غيرت کله دا اجازه راکوي چې خپل مېلمه د هغه دښمن ته تسليم کړو؟

او بله خبره دا ده چې د شر او فساد ډلو افغانستان داسې وران کړ چې جوړول يې زموږ له وسې وتی کار ده، دا هيواد د آمريکا تر استعمار وروسته جوړېدای شي، بيا زموږ خپل هيواد ده پکې اوسېږو به او جوړو به يې، اوس به له آمريکا سره تر خپلې وسې پورې جګړه کوؤ.

ملا صاحب خبرې په همدې ځای پای ته ورسولې او بيا تر هغه وروسته څو نورو کسانو هم خبرې وکړې او بيا غونډه پای ته ورسېده. ټول ووتل خو کله چې عبدالجبار غوښتل ووځي، نو د استخباراتو مشر د پاتې کېدو اشاره ورته وکړه، ځکه خو عبدالجبار دې ته اړ شو چې په تمه شي، کله چې ټول ووتل، نو عبدالجبار وليدل چې بې له ده څخه يوازې ملاصاحب په کوټه کې ده، ځکه خو نږدې ورغی او تر څنګ يې کېناسته مخکې تر دې چې څه ووايي ملا صاحب ورته وويل:

عمري! څنګه يې زما له لور سره خوشحاله يې؟

عبدالجبار حيران شو، چې ملا صاحب دی يوازې د شخصي پوښتنو لپاره راغوښتی ده او که څنګه، ځکه خو يې په دې اړه له خبرو کولو ډډه وکړه، خو ملا صاحب ووېل:

دا پوښتنه مې ځکه وکړه چې کېدای شي چې هغې پښتو ژبه زده کړې وي او د پښتو کلتور، دود او دستور يې لوستی وي، خو بيا هم له ډېرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیان بې خبره ده او په ډېرو شیانو نه پوهېږي، ځکه خو له تا نه هیله لرم چې ډېر نرم ورسره مخته ولاړ شې.

بله دا چې باید نور خپله کورنۍ له کابل نه وباسې ځکه ستا ښځه هېڅ کله هم نه باید بهرنیانو ته په لاس ورشي.

او بله خبره هم دا چې ما ټولو استخباراتو ته امر کړی چې د امارت غړو (طالبانو) په منځ کې خائن او رذیل کسان تصفیه کړي او ته هم باید دا کار وکړې.

عبدالجبار په ټیټ غږ وویل:
سمه ده ملا صاحب زه به ژر تر ژر ستا امر پر ځای کړم.

بیا عبدالجبار لومړی له ملاصاحب نه رخصت واخیسته او بیا د استخباراتو مشر پر لوري ورغی، که هر څو ورته کلك شو، خو عبدالجبار په تګ باندې ټینګار کاوه، ځکه خو هغه هم دې ته مجبور (اړ) شو چې رخصت ورکړي.

عبدالجبار د استخباراتو له مشر نه رخصت واخیست او بیا لاړ چې موټر واخلي او د هغو توکو خواته ورشي چې ده پېرلي دي، خو چې څنګه یې خپله فوربای فور روښانه کړ نو پام یې شو چې ټول توکي په موټر کې دي، چې په دې کې سلیم نومی ځوان را پیدا شو چې په لاس کې یې یو کارتن وؤ، کارتن یې په موټر کې کېښود او بیا یې په موسکا وویل:
ملاصاحب ویل چې د عبدالجبار ښځې ته مې لور ویلي، ځکه مې دا انار چې پخپلو پیسو اخیستي دي هغې ته لېږل غوښتل عبدالجبار ته یې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلیم له دې خبرې سره عبدالجبار موسکا وکړه او بیا یې حرکت وکړ، په لاره کې د ملا صاحب دې کار ته حیران وؤ، چې یوې نجلۍ ته یې لور ویلي او اوس ورته ډالۍ لېږي، داسې به یې په سلګونو نجونو ته لوڼه ویلي وي، نو دی ځنګه دې ته وخت پیدا کوي چې هر یوه په یاد وساتي، پوښتنه یې وکړي او ډالۍ ورته ولېږي، سره له دې چې د حکومت او دولت مشري په لاس کې لري. ما سره له دې چې له ملکې سره مینه لرله خو نه مې غوښتل له هغې سره واده وکړم، ځکه نه مې غوښتل په دنده کې مې ستونزه راشي. ناظر خپلې مینې سره واده ونه شو کړای ځکه مینه یې د دې لامل کېدای شوه، چې په دنده کې یې ستونزه پیدا شي. سره له دې چې هغه یوازې د تور پوځ یا حصار لښکر معاون وؤ، نو ملا صاحب ځنګه کولای شي چې هم د ټول دولت، هم د خپلې کورنۍ او ډېرو نورو یتیمو ماشومانو پر سر لاس را کاږي، د بې پلاره او بې کوره او لوره نجونو لپاره هم له پلاره کم نه دی.

په همدې سوچونو کې وؤ چې له شانه یو کس هارن پرې وکړ، چې ځان ته یې پام شو، موټر یې له سړکه اوښتی وؤ او یوې درې ته نږدې وؤ چې ولوېږي، ژر یې ځان او موټر را کابو کړ او بیا یې موټر بېرته را وګرځاوه او راغی له هغه موټر سره ودرېده، له موټر نه راښکته شو راغی او د موټروان مخ ته یې وکتل هزاره وؤ، په حیرانتیا یې پوښتنه ترېنه وکړه خو په دري ژبه:

ژباړه: وروره ځنګه دې راته فکر شو او ولې راپسې راغلې؟

هزاره سړي په موسکا وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دومره تېز او ګړندی روان وې چې زه هم حیران شوم داسې بې ځایه ځي ته ځنګه په دومره ګړندیتوب سرې واوښته، ځکه درپسې راواوښتم او بیا چې کله مې دلته پر هارن لاس ټینګ درته ونیوه، تر دې مخکې مې څو ځلې هارن درته وکړ.

عبدالجبار په موسکا وویل:

څه کار کوې چې ته هم په دې توره شپه کې یوازې دلته په موټر کې ناست یې او آیا طالبان دې نه په عذابوي؟

هزاره ځوان په موسکا وویل:

زه د موټرو تجارت کوم، پخوا به په لیني موټرو کې هرات ته تلم، هلته به مې موټر اخیست او بیا به مې په ډېر زحمت کابل ته رساوه او هلته مې خرڅاوه، خو یوه ورځ چا له ملا صاحب سره کېنولم، هغه خط راکړ، ځکه خو اوس په شخصي موټر کې ځم شپږ موټر په ټرېلر کې کابل ته وړم او چې کله مې خرڅ کړل بېرته هرات ته راځم.

عبدالجبار په حیرانتیا وپوښتل:

نو تا امیر المؤمنین لیدلی ده؟

هزاره په خندا وویل:

هو! ولې زه د افغانستان نه یم که څه؟

عبدالجبار وویل:

نه زما مطلب دا ده، چې نیم افغانستان چغې وهي چې ملا صاحب محمد عمر بېخي شتون نه لري، خو ته یې د لیدو وایې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هزاره وويل:
ملا صاحب که ماته څه کار نه وي، نو درنه رخصتېږم.

عبدالجبار هم بې له دې چې څه ووايي په لاس يې مننه او خدای په اماني وکړه او بیا خپل موټر ته پورته شو.

*****

هخوا په کابل کې صفیه او ملکه په دې جنجال کې وې چې آیا ملا محمد عمر شته او که نه، د دوئ په دې خبره پوره جنجال روان وؤ، چې آیا ملا محمد عمر شته او که نه، صفیه وويل:
نه شته، ځکه لاتر اوسه يې بې له هغه يوه عکس دويم هم شتون نه لري.

خو ملکې ورته وويل:
ما هغه پخپلو سترګو لیدلی ده.

آخر مېرمن عايشې ورته وويل:
خو چې دې لیدلی ده، نو سمه ده.

خو بیا هم د دوی جنجال د عبدالجبار تر راتګ پورې حل نشو او کله چې عبدالجبار راغی او کارتن يې ملکې ته وسپاره او ویې ويل:
دا دې ابا راليږلي دي.

ملکې ورته وويل:
چا راليږلي دي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار وویل:
ملا صاحب!

ملکې په حیرانتیا وپوښتل:
نو بیا ولې وایې چې ابا دې رالېږلي دي؟

عبدالجبار په موسکا وویل:
خو ملا صاحب تاته لور ویلې ده.

چې کله ښاغلی قدرت کورته راغی، نو عبدالجبار د ملا صاحب د امر په اړه ورته وویل، هغه هم سمدواره چمتوالی وښود.

بیا عبدالجبار لاړه او ویده شو، ورځ یې په کور کې تېره کړه او بیا ماخوستن ملکې د سلیم لپاره د یوې نجلۍ د لیدو خبره وکړه، چې له دې خبرې سره سم عبدالجبار وویل:
ښه نو کوچني ته مو نجلۍ لیدلې ده، دا د کوم ظالم لور ده؟

ملکې په موسکا ورته وویل:
د صفیې د مېړه خور.

عبدالجبار په موسکا ورته وویل:
نو تا هغه چېرته ولیده؟

ملکې ورته وویل:
د صفیې په واده کې راغلې وه، هلته مې ولیده.

عبدالجبار وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا خو به مورجانې هم لیدلې وي، نو بیا ولې هغه د دې کار مخالفه ده؟

ملکې وویل:
ځکه چې هغه وایي دا کار د بدل په شان ده او زه بدل نه کوم.

عبدالجبار په سوچ کې لاړ او تر څه ځنډ وروسته یې په تعجب سره وویل:
هو! د مور خبره مې هم ډېره غلطه نه ده.

ملکې او صفیې په خندا وویل:
نه ټوکه مو کوله، په اصل کې په هغه بل بلاك کې د حاجي عبدالرحمٰن لور مو ښوده.

عبدالجبار یوه نرۍ موسکا وکړه او بیا یې وویل:
ښه نو اوس دې ټوکې هم شروع کړې دي، تاسو صبر وکړئ زه به یې په اړه تحقیقات وکړم او بیا به سوچ پرې وکړو.

ملکې په ټوکه وویل:
څنګه چل وؤ، ابا مې زما په باره کې څه درته ونه ویل؟

عبدالجبار هم د هغې په توکه وپوهېده، ځکه خو یې وویل:
ابا دې ویل چې داسې لور نه مې چې هېڅ نه درلودای ښه وه.

دا خبره په ملکې لږ څه ښه ونه لګېده، ځکه خو یې وویل:
هغه داسې سړی نه ده چې داسې خبرې وکړي.

ځکه خو عبدالجبار هم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا ډېر صفت یې وکړ، خو له ما یې وغوښتل چې تاته څه ونه وایم.

*****

عبدالجبار دندې ته روان شو، چې خبر شو آمریکایانو حامد کرزی په ارزګان کې له طالبانو نه ژغورلی ده، لاړه دفتر ته یوه کس ته یې داسې وویل:

په دې لیك کې د حاجي عبدالرحمٰن په اړه ځینې معلومات لیکل شوي دي، پاتې معلومات به ته راټول کړې او زما پلار ته به یې ورکړې.

هغه کس سمه ده وویل او بیا په خپلې دندې پسې ووت.

عبدالجبار په ځینو کارونو بوخت وؤ، چې د مېز په سر یې سلما ټیلیفون ته زنګ راغی، چې ثنګه یې پورته کړ او سلام یې واچاوه، له هغې خوا نه د استخباراتو د مشر غږ راغی چې ویل یې:

وعلیکم السلام و رحمته الله وبرکاته! عبدالجباره ته باید بېرته کندهار ته راشې، په څو ورځو کې دې ځان را ورسوه، خو تر هغو پورې دې خپل کارونه خلاص کړه او یو ملګری دې په خپل ځای وټاکه.

عبدالجبار په موسکا وویل:

سمه ده مشره! چې ثنګه ستا خوښه وي، هغسې به وشي.

عبدالجبار خپل کارونه په ډېرې چټکۍ سره پیل کړل او بیا یې تر ماښامه هېڅ دمه ونه کړه، ماښام ناوخته کورته لاړه اودس او لمونځ یې کړی وؤ، ملکې چې ولیده نو پوهه شوه چې خاوند یې ښه ستی ده، ځکه خو یې به بېړه چای دم کړ، چې په دې بېړه کې یې خپل لاس هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسوځاوه، خو د دې لپاره چې عبدالجبار پوه نه شي، ژر لاړه د غاښونو کریم یې پرې وموښه او بیا یې عبدالجبار ته چای یوړ، که څه هم دې ډېره هڅه وکړه چې خپل سوی لاس له عبدالجبار نه پټ کړي، خو دې کار ګټه ونه کړه، ځکه هغه هم د استخباراتو غړی وؤ، په بېړه یې د هغې لاس ونیوه او چې ویې لیده نو په غوصه یې وویل:

دا ولې؟

ملکې وویل:

دومره ژوبل نه ده، هسې لږې سرې اوبه پرې تویې شوې دي.

عبدالجبار په بېړه وویل:

څه چې لاړ شو روغتون ته.

ملکې یې په ځواب کې وویل:

نه ګرانه! دومره نه ده ژوبل شوی، روغتون ته اړتیا نه شته.

که عبدالجبار هر څومره ټینګار وکړ، خو بیا هم ملکې دا ونه منله چې روغتون ته لاړه شي. شپه ناوخته وه چې ښاغلی قدرت کورته راغی او چې کله کورته راغی، نو عبدالجبار یې هم ځان ته راوغوښته او بیا یې د ټولو په وړاندې وویل:

په دوکان کې ناست وم، چې د عبدالجبار یو ملګری راغی راته یې د حاجي عبدالرحمٰن په باره کې وویل، هغه ویل:

حاجي عبدالرحمن د حاجي فاروق زوی ده، د ننګرهار د کامې اولسوالۍ ده، څلور وروڼه دي او درې خویندې یې دي، درې زامن او پینځه لوڼه لري، دوه زامن یې په سعودي عربستان کې هوټل لري او یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی یې د موټرو تجارت کوي. دو لوڼه یې واده دي، چې یوه یې د کریم خان په نامه یوه کندهاري ته ناسته ده او بله یې خپل وراره ته ورکړې ده.

هغه دا هم ویل چې سړی ښه او موړ ده او د جهاد په وخت کې به یې له مجاهدینو سره ښې او پخې مرستې کولې او اوس هم په کابل کې څلویښت میلیونه زکات وباسي.

هغه یې د زامنو په اړه وویل چې مشر زوی ته یې کندهارۍ، دوهم زوی ته یې خورزه او دریم زوی ته یې د لوګر کومه نجلۍ کړې، خو واده یې لاتر اوسه نه ده کړی.

ده راسره خبرې کولې ځکه رابانده ناوخته شوه، او هو ریښتیا عبدالجباره زویه! ستا له خبرې سره سم مې په خوست کې یو کور او یو دوکان پیدا کړل، سبا ته به زه او سلیم هم ورشو او خبره به خلاصه کړو.

عبدالجبار تر څه فکر کولو وروسته وویل:

سمه ده پلارجانه! ډېره ښه شو، سبا ته به زه خپل کارونه خلاص کړم ته او سلیم به خپل او مورجانه او ملکه به خپل.

ملکې عبدالجبار ته د سوال په نښه وکتل، ځکه خو عبدالجبار وویل:

که چېرته ستا ، مورجانې او صفیې نجلۍ خوښه وي، نو تاسو درېواړه به د هغوئ کور ته ولاړې شئ، نجلۍ به یو ځل بیا وګورئ او که چېرې مو خوښه شوه نو خبره ورته یاده کړئ، نور به الله تعالیٰ خیر کړي. اوس نو پاځېږه چې لاړ شو کوټې ته او ویده شو.

ملکې غوښتل څه ووایي، خو صفیې یې خبره ورغوځه کړه او په ټوکه یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوهو وروره! دومره وارخطا یې چې ډوډۍ دې هم هېره کړه؟

د صفیې په دې خبره عبدالجبار وشرمېده، خو مخکې تر دې چه څه ووايي ملکې وويل:

نن ډېر ستړی ده او بل ډوډۍ هم د پلار جان لپاره لږ ناوخته شوه، نو ځکه به وراخطا وي.

دې خبرو خو عبدالجبار له خبرو نه شو خلاصولی خو د ملکې له خولې نه د پلارجان کلمه د دې لامل شوه چې خبره همدلته پای ته ورسېږي.

ډوډۍ وخوړل شوه، لمونځ وشو او بیا ټول ویده شول.

سهار هر یو په خپل کار پسې ولاړل، لومړی ښاغلی قدرت او د هغه دوهم زوی سلیم خوست ته حرکت وکړ او بیا عبدالجبار خپله نیا عایشه انا، خپله مور خدیجه، خپله مېرمن ملکه او خپله خور صفیه تر سهارني وروسته د حاجي عبدالرحمن کورته ورسولې او بیا خپلې دندې ته لاړه، په دفتر کې یې خپل معاون ځان ته راوغوښته او ورته ویې ویل:

ګوره صابره وروره! پوهېږم چې ډېر مصروف یې او کارونه دې هم ډېر دي، خو په دې باندې به هم پوهېږې چې د وطن شرائط او حالات هم مناسب نه دي، وضعه ګډوډه ده، ټوله نړۍ زمونږ پر وړاندې ولاړه ده، هغه پاکستان چې تر اوسه پورې یې خلك زمونږ بادار او ملاتړ ګڼي اوس زمونږ پر وړاندې ولاړ ده او زمونږ دښمن آمریکا ته یې اډې ورکړي او هغه هم د دې لپاره چې پر مونږ باندې برید وکړي، ایران خو له پخوا نه له مونږ سره دښمني پاللې ده، روسیه چې د آمریکا ډېره کلکه دښمنه ده، آن هغې د ځینو لاملونو له امله له آمریکا سره لاس یو کړی. په کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د شر او فساد مشران او غړي، پاټکیان او ګلیم جم راته یو شوي دي، ځکه خو زه مجبور یم چې له مشرانو سره په غونډو کې ګډون وکړم، نو دا چې زه سم هلته ورسېدای شم تر راتلونکي امر پورې باید زما وظیفه مخته یوسې، بیا چې هرڅه سم شول ستا په اړه به هم پرېکړه وکړي.

صابر ورو وویل:

وروره چې ته مشکل لرې، نو زه به یې مخته بوځم، رب تعالیٰ دې د وطن او اولس دواړو مشکلات حل کړي.

عبدالجبار وپوښتل:

رېښتیا هغه د احمد رازي مسئله څنګه شوه؟

صابر وویل:

وروره! نه پوهېږم دا احمد رازي څنګه انسان وؤ، چې حیوان پرې ډېر شرف لري. هغه کوم کس د انډیوالۍ پر بنا په حوزه کې مقرر کړی وؤ، هلته یې بې ګناه تنکي زلمیان د غلا په تور نیول او بیا به یې لواطت ورسره کاوه، بې ګناه پېغلې او ښځې به یې د زنا او غلا په تور نیولې او زنا به یې ورسره کوله، بیا امنې قومندانۍ ته تللی وؤ، او هلته به یې دا کارونه کول او په دې کار کې یې ټیم هم لاره.

څو شېبې غلی شو او بیا یې وویل:

هغه ځوان چې تا یې په باره کې خط رالېږلی وؤ، هغه یې هم بېګناه نیولی وؤ، اوس مې ترې راوسته او ستاسو امر ته په تمه وؤ، خو دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته کندهار ته تللی وې نو خوشې مو کړ او هغه پیسې مو هم بېرته ورکړې چې احمد رازي یې له پلاره اخیستې وې.

او وروره یوه بله خبره په حوزه کې چې وؤ، د سلګۍ په نامه یوه کونډه یې د غلا په تور ونیوله او بیا یې حوزې ته بوتله، په محکمه کې یې د غلا یوازیني شاهدان احمد رازي او د هغه ټیم وؤ، هلته په محکمه کې هم د غلا په تور د هغې د لاس پرې کېدو فیصله وشوه او لاس یې پرې شو.

خو مونږ چې قضیه وڅېړله له شروع پرې شکمن شولو، ځکه قاضي صاحب ویل چې په محکمه کې سرو زرو شتون نه درلوده، د کومو په تور چې دا محمکې ته بوول شوې وه، قاضي صاحب ویل چې خوابنې یې قسم وکړ چې دې غلا کړې ده، خو دا قسم ته حاضره نه شوه، د هغې ښځې نیولو پر مهال چې کوم طالبان بې د ده له ټیم نه تللي ول، هغوئ ویل چې د نیولو په ورځ یوازې او یوازې احمد رازي غلا شوي شیان موندل، چې له دې خبرې نه دا جوتېږي چې سره زر نه وؤ غلا شوي، بلکې دا احمد رازي وؤ چې شیان یې ایښودل او بېرته یې را اخیستل، بل هغوئ ویل چې کله دوئ ښځه حوزې ته بوتله نو هېڅ پروایې نه لرله او آن د تحقیق پر مهال یې ویل چې زه په حکومت باندې پوره باور لرم چې ظلم نه راباندې کوي. خو د شپې دی د هغې کوټې ته ورغلی وؤ او بیا یې تر راوتلو څخه څه موده وروسته یې غسل کړی وؤ، په سبا یې ښځه ډېره وېرېدلې وه او آن خبرې یې نه کولې او چې موږ ته به یې کتل لکه سپي ته چې ګوري، له دې خبرې معلومېږي چې په زور یې زنا ورسره کړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې خبرې سره د صابر په سترګو کې اوښکې راغلې، پاڅېده، له ترموز نه يې ځان ته چای واچاوه او بیا يې خبرو ته داسې دوام ورکړ:
چې کله مو له ښځې نه دا پوښتنه وکړه، نو هغې په ځواب کې وویل چې هو دا کار يې راسره کړی، خو د دې لپاره مې څه ونه ويل چې داسې نه وي چې دا ځل د تهمت په تور په دورو ووهل شم او يا د زنا په تور سنګسار شم.

له ښځې مې وپوښتل چې ولې احمد رازي او د دې خوابنې سره يوځای شول او څنګه په دې وتوانېدل چې تا غله ثابته کړي. راته ويې ويل خوابنې مې پخوا له خلقيانو سره کار کاوه او خپل خپلوان مو وايي چې ډېره بدنامه وه او خسر مې پرې دپاسه ګير شوی وؤ، ځکه خو پرې تاوان شوې وه، په خسر باندې مې زور هم وه. کله چې مې مېړه مړ شو، خوابنې مې زه له کوره ووېستم چې ته سپېره يې، خو چې څه موده وروسته مې چې زوی پيدا شو، نو هغې غوښتل چې د هغې بدنام زوی ته کېنم، چې ما ونه منله، نو دې خپل لمسی وغوښته او چې ما ونه منله، نو هغې خپل سره زر احمد رازي ته ورکړل، هغه به زمونږ په کور کې پټ له جيب نه راوېستل او بيا به يې ويل چې دا دي، دا هغه راته وروسته زما تر بې عزته کېدو وويل او دا يې هم وويل چې خوابنې ورته ويلي دي چې هر وخت چې هر خدمت وي، نو دا ورته آماده ده آن زنا. هماغه وؤ، چې زما لاس پرې شو او زما زوی يې رانه وتښتاوه او له ټولې کورنۍ سره پاکستان ته ولاړل او خبره شوې يم چې احمدرازي يې هم غوښتی، نن به ورغلی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دې خبرې وروسته د عبدالجبار په سترګو کې هم اوښکې راغلې او صابر احمدزي هم له پيالې نه يو غوړپ وکړ او بيا يې وويل:

ورته ومې ويل: موږ به احمد رازي ونيسو او سزا به په خپله خوښه ورکړو او چې حالات ښه شول، نو بيا به له خيره ستا خوابنې هم په خپلو اصول راوغواړو بيا ته په خپله خوښه سزا ورکړه، خو هغې وويل فکر نه کوم چې حالات به ښه شي، ځکه کله مې چې زوی وتښتول شو، نو ما دعا وکړه چې نظام سقوط شي اوس يې دوه هفتې تېرې شوي دي، د هغه په تښتولو کې هم د احمدرازي لاس وؤ، په بېړه مې خدای په اماني ترې واخيسته، ځکه نور مې د هغې د ژړا د غږ اورېدو وسه نه وه، اوس احمد رازي نيول شوی او نن به يې راولي کابل ته.

نور صابر له خبر ولوېده، د ډېر خفګان له لاسه عبدالجبار هم په ژړا کې وويل:

چې په چا يې ظلم کړی ده، هغوئ ورته را وغواړئ او په هغوئ يې سنګسارکړئ، دا ښځه حتماً ورته راوغواړئ.

صابر ورته وويل:

سمه ده وروره! حتماً دا کوؤ.

عبدالجبار ورته وويل:

او بله دا ته پوهېږې او دا ځای زه درڅخه ځم، سبا ته لږ څه کار لرم او بله ورځ له خيره سره کندهار ته حرکت کوم.

عبدالجبار پاڅېده او دفتر څخه راووت، لاړه خپله فور بايفور يې روښانه کړه او د کور په لور يې حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هخوا ښځو د حاجي عبدالرحمن دوئ کورنۍ دې ته هڅولې وه، چې خپله لور سليم ته ورکړي، خو د حاجي عبدالرحمن مېرمنې مريم ورته وويل:

سمه ده خورې! زما زامن هم ستا د زامنو صفت کوی، چې ډېر ښه هلکان دي، خو بيا هم دا د سړيو کار ده او زه به بېګاته خپل خاوند او زوی ته دا خبره ياده کړم او بيا به هغوئ په دې باره کې تصميم ونيسي، زه پخپله په دې باره کې څه نه شم ويلی.

ځکه خو د ملکې دوئ ټيم هم دې ته اړ شو چې د بېرته تللو تصميم ونيسي.

بله خوا ښاغلي قدرت او سليم يو کور او دوه لوی دوکانونه واخيستل او چې د اسنادو کار يې خلاص شو نو د کابل پر لور يې حرکت وکړ، په لاره کې يې څه مېوه هم واخيسته او بيا کابل ته ماخوستن ناوخته را ورسېدل، چې کله يې دمه وکړه، نو مېرمن خديجې له سره تر پايه ټوله کيسه ورته تېره کړه او بيا ښاغلي قدرت وپوښتل:
نو تاڅه وويل؟

مېرمن خديجې يې په ځواب کې وويل:
ما ورته وويل چې سبا ته سړي درته رالېږو، نو تاسې پوهېږئ او هغوئ.

ښاغلي قدرت وويل:
سمه ده، خو لږ وخت به دې ورکړی وؤ، خو سبا به ورشو.

مېرمن خديجې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه مې عجله وکړه چې بیا داسې نه وي، چې دا زوی مو په کومې خوا لاړشي.

ښاغلي قدرت وویل:
هو ستا دا خبره هم رېښتیا ده.

مېرمن خدیجې وویل:
هو ځکه خو باید بېړه وکړو، ځکه داسې نه وي، چې دا خبره وځنډېږي او دا نجلۍ بل چاته ورکړي.

ښاغلي قدرت غوښتل څه ووایي، خو مېرمن عایشه مخکې شوه او ویې ویل:
ته حاضر نه وې چې ویې کړې اوس دومره وارخطا یې؟

مېرمن خدیجې په موسکا وویل:
هغه وخت مې د خرید په نظر نه وه لیدلې ځکه.

تر سهاره پورې ښاغلي قدرت او مېرمن خدیجې سوچونه وهل، خو کله چې عبدالجبار دا خبره واورېدله، نو تر ویده کېدو د مخه یې دوه رکعته نفل لمونځ چې د استخارې په نامه سره مشهوره ده وکړ او بیا یې دعا وکړه او ځملاسته چې کله ځملاسته ملکې هغه کتاب راوخیسته او بیا یې هغه ځای راواړاوه چې عبدالجبار ترېنه دعا لوستلې وه، بیا یې له ځان سره وویل:
داسې خو نه ښکاري چې څوك دې دا لمونځ او دعا بل کس وکړای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عبدالجبار په خندا ترې وپوښتل:
څه خبره ده ګرانې؟ څه دې ویل؟

ملکې په مینه ورته وویل:
دلته دعا یې داسې ده، چې سړی یوازې ځان ته کولی شي، نه بل چاته.

عبدالجبار ورته په حیرانتیا وویل:
هو رېښتیا! زما خو هېڅ فکر ورته نه وو. باید وګورم چې که چېرې سلیم ویښ وي، نو هغه به هم دا کار وکړي.

ځکه خو پاڅېده او سلیم ته ورغی، د سلیم کوټې ته چې ورننه شو او په سلیم یې غږ وکړ، پوه شو چې سلیم ځان په خوب وهلی ده، نو ویې ویل:

هی هی وروره! ما ویل ویښ به یې چې دا کتاب درکړم، تر څو د استخارې لمونځ وکړې، خو ته ویده یې ځه دا کتاب به همدلته کېږدم.

کتاب یې هلته کېښود او بیا له کوټې راووت او خپله کوټه کې ویده شو. په خوب کې یې ولیدل چې دې خبرې ته خوښ دی چې د حاجي عبدالرحمن لور یې سلیم ته ورکړې ده. ځکه خو سبا ته پلار او زوی حاجي عبدالرحمن ته کېناستل او هغوئ هم کوچنی دستمال ورکړ په اصطلاح وړه شیریني یې ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دستمال یې کورته یوړ او بیا لاړ بازار ته ځینې شیان یې ځان او ځینې شیان یې سلیم او د هغه کوژدنې ته واخیستل او بیا کور ته لاړه، شپه یې له ملکې سره تېره کړه او بیا د کندهار پر لوري وخوځېده.

د کندهار پر لاره عبدالجبار ډېر داسې څه ولیدل چې ده ته یې دا په ډاګه کوله چې نور نظام سقوط ته نږدې ده، لکه د وړو طالبانو رویه ډېره بدله او ظالمانه شوې وه، په اسلامي اصولو کې یو اصل دا ده چې چارواکي به د اولس خادمان وي، نه باداران خو دلته دا اصول په رنګېدو ول، ځکه چارواکو او آن سرتېرو له ځان باداران او له اولس نه مزدوران جوړ کړي ول، عبدالجبار له ځان سره دا وانګېرله چې بې له ملاصاحب، وزیرانو او ډېرو کمو وړو چارواکو نه نور ټولو وړو چارواکو او سرتېرو له خپلو دندو نه بې ځایه ګټه اخیسته، دا قاعده ده چې کله حکومت ظالم شي نو بیا ډېر دوام نه کوي.

کله چې ملا صاحب ته ورسېده او ټوله کیسه یې ورته وکړه، نو ملاصاحب ورته په ژړاشو او همداسې په ژړا کې یې وویل:
تا سم فکر کړی ده، زه هم فکر کوم چې دا حکومت به سقوط کوي او نظام به له منځه ځي.

ډېرې خبرې یې وکړې اوس یې ویل لازم نه دي، چې بیا دا خبرې د استخباراتو د مشر په راتلو پای ته ورسېدې او هغه په ډېر خواشینوونکي ډول وویل:
ملا صاحب! ډېر بد حالت په وطن کې روان دی، زمونږ کسان د دې پر ځای چې په دښمن پسې وګرځي، راځي او په اولس باندې ظلم کوي، له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اولس نه ډوډۍ غواړي چې هغوئ په خپله له لوږې نه مري، خلك د بې بې سي راډيو د اورېدو په بهانه ډبوي، خلك د پورته غږ باندې د غږېدو په بهانه ډبوي او داسې نور.

ملا صاحب په اند ېښمن نظر ورته وکتل او بيا يې وويل:

اوس عبدالجبار هم وويل، له دې نه ښکاري چې نور زموږ حکومت دوام نه شي کولی او لامل يې هم دا ده چې موږ داسې کسان له ځان سره يوځای کړل چې، پکار وؤ چې له ځان سره مو يوځای کړي نه وای، ما د خلکو له خولې نه واورېدل چې ويل يې طالبان ډېر ښه او پاك خلك ول، خو ډېر بد خلك يې صفونو ته ورننه وتل.

*****

وخت همداسې تېرېده د موټرسايکل والاکس يا حامد کرزی، د شمال لنډغر، پاکستان، سعودي، ايران، تاجکستان او ځينې نور هيوادونه خپلې دې هېلې ته ورسېدل، آمريکا او د هغه غربي متحدينو په داسې حال کې پر افغانستان باندې بريد وکړ چې ټوله نړۍ د افغانستان پر وړاندې يوه لوري ته شوې وه، طالبانو به هرومرو ماته خوړله، ځکه يوه خوا ټوله نړۍ ورته يوه لوري ته شوې وه او بل دا چې د طالبانو سپېڅلو صفونو ته ډېر لنډغر وردننه شول او د هغوئ ايماني ځواك يې ختم کړ (ايماني ځواك دا چې بنده ايمان ولري چې الله تعالی' له ماسره ده او ايمان له کبله الله هم ورسره تل مرسته وکړي). نړۍ يې پر دې ډول پر خلاف شوه، چې د آمريکا ولسمشر جورج ډبليو بوش وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس یوازې دوه صفونه شتون لري، یو د صلیب او بل د ترهګرو، څوك چې كوم صف كې ودرېږي.

د نړۍ ټول هیوادونه د صلیب په صف كې ودرېدل او بیا یو بله صلیبي جګړه پیل شوه، ظاهراً دا جګړه صلیب وګټله او طالبان او القاعده مات شول، ملا محمد عمر مجاهد له عبدالجبار عمري سره ارزګان ته ولاړه، هلته په لومړیو كې د هغه سپین ږیري بوډا په كور كې دېره شول، څه موده هلته ول، بیا عبدالجبار د ملا محمد عمر مجاهد له خوا په دې باندې مأمور شو، چې باید د ټیپ ریكاردر هغه فیته د رهبرۍ شورا غړو ته ورسوي چې په هغه وخت كې په كوټه ښار (چې د اشغالي افغانستان له سترو ښارونو ګڼل كېږي) دېره ول، په هغه پیغام كې چې د ټیپ ریكاردر په فیته كې ملا صاحب محمد عمر مجاهد پكې وینا كړې ویل شوي وؤ.
چې ملا صاحب له امارت نه لاس اخلي او په خپل ځای د اسلامي امارت دفاع وزیر چې د افغانستان پخوانی وزیر ګڼل كېږي ټاكي او هغه پوهېږي او چارې یې، خو ښه خبره دا ده چې دا خو سمه ده چې حامد كرزی خائن وؤ، خو بیا هم وخت وركړل شي، چې افغانستان جوړ كړي، كه چېرې آزاد او اسلامي هیواد وؤ او ظلم او ستم پكې نه وؤ، نو بیا مبارزه ونه شي.

كله چې عبدالجبار دا پیغام شورىٰ ته ورساوه، نو بېرته ارزګان ته نه بلكې خوست ته راغی او هلته یې څو شپې له خپلې كورنۍ او مېرمنې ملكې سره تېرې كړې، ملكې دا زېری هم ورې وكړ چې په ګېډه یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشوم ده، ځکه خو عبدالجبار ډېر خوشحاله ېبرته ارزګان ته ستون شو او دا زېری یې په ملا صاحب باندې هم وکړ.

ملا صاحب یې په ځواب کې وویل:

رب تعالیٰ مو د ښه اولاد څښتن کړه او هغه تعالیٰ نه غواړم چې نېك او صالح یې درته لوی کړي.

عبدالجبار او ملا صاحب دواړه د هغه سپین ږیري له کور نه د عبدالجبار دوئ دیوه خپلوان کور ته ولاړل، چې له ېبز سره نږدې وؤ او پته کوټه یې لرله. دلته په اوسېدو سره ملا صاحب او عبدالجبار دواړو د خوندیتوب احساس لاره چې له دې ځایه عبدالجبار دوه ځلې خپل کورته لاړه، زوی یې نوی په خبرو راغلی وؤ، ملا صاحب به کله نا کله یو پیغام د رهبری شوریٰ ته لېږه چې له دې سره به دا ګوانښ هم پیدا کېده چې د جاسوسانو له خوا ونه څارل شي، خو عبدالجبار هم د استخباراتو کارکوؤنکی وؤ، ډېر پام به یې کاوه، خو کله چې ملا صاحب ناروغ شو او له روغتون نه یې ډډه وکړه، نو عبدالجبار یې له یوه پیغام سره شوریٰ ته ولېږه، ېبرته چې راستنېدو، نو د دې لپاره چې فکر یې ملا صاحب ته خراب وؤ، ونیول شو او بیا بګرام ته ولېږدول شو، هلته د څېړنو لاندې ونیول شو، خو عبدالجبار عمري دې ته حاضر نه شو، چې حتیٰ خپل اصلی نوم چاته واخلي.

بله خوا د عبدالجبار عمري د نیول کېدو پرځای د شهیدېدو خبر د هغه کورته لاړه، څنګه چې ملکه له دې خبرې خبره شوه، فشار یې پورته شو او عصبی سکته یې وکړه، څه موده په روغتون کې بستره وه او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

له څه مودې وروسته مړه شوه، خپل زوی یې بې موره او خاوند یې بې ښځې کړ. نور نه پوهېږم، خو له ملا صاحب سره یې د لور او پلار ولۍ دا یوه رشته نور هم ټینګه کړه او هغه دا چې دواړه په یوه ورځ وفات شول.

ملکې وصیت کړی وؤ، چې د دې ملګرې سارا مېلاني ته دې د دې د مرګ خبر ورکړل شي، ځکه خو سلیم هم همدا کار وکړ، د ملکې د مرګ خبر په اورېدو سارا مېلاني ډېره خواشینې شوه، تر داسې بریده چې آن پیسې یې ټولې کړې او له خپلې بلې ملګرې سره افغانستان ته را روانه شوه، په دوبۍ کې له غربي لیکوالې بټې دم سره مخ شوه، چې بټې دم غوښتل د خپل هغه کتاب (یو سړی او موټر سایکل) باندې کتنه وکړي، ځکه افغانستان ته راتله، خو کله چې له سارا مېلاني نه یې د سفر علت وپوښته، نو هغې ورته د عبدالجبار عمري وویل:
کله چې سارا مېلاني د ملکې قبر ته لاړه، د هغې زوی یې ولید او بیا یې له سلیم او د سلیم له کورنۍ نه د ملکې په اړه واورېدل، نو زړه یې غوښتل چې له عبدالجبار عمري سره وګوري، خو سلیم نوی خبر شوی وؤ چې هغه لا په بګرام کې بندي دی، دوئ دواړه ملګرې چې دواړه حقوق پوهانې وې، په هغه پسې وګرځېدې او هغه یې راخلاص کړ، له هغه نه یې د ملکې په اړه ډېر معلومات واخیستل او ولیکل، بیا بېرته آمریکا ته ولاړې او غوښتل یې چې دا ټول معلومات د یوه کتاب په بڼه خپاره کړي، خو چا اجازه ورنه کړه.

تر دې پېښې څو کاله وروسته مېرمن بټې دم راغله او غوښتل یې د ملا صاحب په اړه یو کتاب ولیکي، ځکه خو مجبوره وه چې له عبدالجبار عمري او ځینو نورو چارواکو سره وګوري، مېرمن بټې دم، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب هم ولیکه چې د ملا محمد عمر مجاهد په اړه وؤ، هغې له نورو چارواکو سره مرکه وکړه او چې کله هغوئ د عبدالجبار عمري نوم ورته واخیسته، نو دا په سوچ کې ولاړه او بیا په دوبۍ کې هغه ملاقات ورپه یاد شو چې دې له آغلې سارامېلاني سره لاره.

کله چې دې عبدالجبار عمري پیدا کړ، نو د ملا صاحب تر کیسې وروسته یې ترې وپوښتل:

فکر کوم د سارا مېلاني په نامه یوې نجلۍ هم له تا سره لیدلي وؤ، که چېرې ستونزه نه وي ویلی شې د څه لپاره؟

عبدالجبار ورته وویل:

د هغې ملګرې جایس (ملکه) زما مېرمن وه.

مېرمن بټي دم حیرانه شوه او ویې ویل:

نو آیا په دومره سخته استخباراتي دنده کې تا په یوې آمریکایي نجلۍ باور کولی شو؟

عبدالجبار په موسکا وویل:

باور خو مې کولی شو، خو دا رېښتیا مې هېڅ کله په غاړه وانه خیسته، ځکه وروسته تر پېښو مې هغې ته هېڅ ونه ویل.

بټي دم وپوښتل:

هغه اوس چېرته ده؟

عبدالجبار یو لاس پر ځمکه کېښود او بل په زړه باندې او ویې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اوس دلته ده، جسد یې تر ځمکې لاندې روح یې په آسمان کې او مینه یې زما په زړه کې. خو هیله کوم چې د مېرمنې راز مې همداسې راز وساتئ.

پای – ۱۴۰۰/۷/۹ کابل افغانستان

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**